# غسل ، حيض او نفاس

## دغسل بيان

غسل په لغت کې دټول بدن مينځلو ته وايي اوپه شريعت کې دناپاکې لرې کولو او ثواب حاصلولو لپاره په يوه خاصه طريقه دټول بدن مينځلو ته غسل وايي .

### غسل څه وخت فرض کيږي :

١- په خوب کې احتلام چه څه خوب وويني يا خوب ونه ويني خو په جامه يې داحتلام اثر وي غسل وربانديې فرض دی خو که خوب ووني مګر په جامه يې کوم اثر نه وي غسل وربانديې نشته .

٢- کله چه خاوند له ښځي سره يوځای شي (دنر شرمګاه دښځی په شرم ګاه کې داخل شي ) که انزال وشي يا ونه شي غسل ورباندی فرض دی.

٣- دحيض او نفاس څخه ورسته غسل کول فرض دي .

AghaLibrary.com

۴- په شهوت سره دمنی وتل که په مباشرت سره وي يا کومه بله ناولې شيطانی ذريعه سره .

په څلورو ذکرشويو صورتونو کې غسل کول فرض دي او دجمعې دلمانځه لپاره ،داخترونو دلمانځونو دپاره ،داحرام دتړلو په وخت او عرفات کې غسل کول سنت دی .

## دغسل کولو طريقه :

دغسل کولو سنته طريقه داده چه اول به دواړه لاسونه دمړوندوسره ومينځي – بيا به خپل شرم ګاه پريمنځي – بيا په جامه يا بدن که پيلتي تويې شوی وي دهغه پريمنځل بيا اودس کول – بيا په ټول بدن دری ځله اوبه اچول د اول ځل ابو اچولو ورسته به ټول بدن وموښي ترڅو کوم ځای وچ پاتې نشي دوهم او دريم ځل به هم ښه کوښښ وکړي چه کوم ځای وچ پاتې نشي .

## دغسل فرضونه :

For more books; Visit: www.AghaLibrary.com

۱- دپوزې پریمنځل ۲- دخولې پریمنځل ۳- دټول بدن پریمنځل چه دیوه ویښته قدرې ځای هم وچ پاتې نشي حتی د نوکونو لاندې بیخو ته دي ابو رسول اوهمدارنګه دنامه غوټۍ او دغوږونه مینځ ته دابو رسول ضروری دي.

دمسلمانې بی بی که ویښتان خلاص وي ټول ویښتان او دویښتانو بیخو ته به اوبه رسوي خو که کوڅۍ وي نو یواځی به دویښتانو بیخو ته ابه رسوي که دکوڅیو په موجودیت کې دویښتانو بیخو ته اوبه و نه رسي نو بیا به خپلې کوچۍ خلاصوي .

## دغسل سنت :

دخدای ج د رضا لپاره د پاکۍ نیت کول ۲- دواړه لاسونه ترمړوندو مینځل ۳- دټول بدن دری ځله مینځل ۴- اودس کول ۵- په بدن یا جامه که څه پیلتی توپې وي دهغه لرې کول ۶- په تشناب کې لمبل اوهلته دجامی اغستل .

## دغسل آداب :

For more books; Visit: www.AghaLibrary.com

۱- په ناستی سره غسل کول ۲- ډیری ابه نه مصرفول ۳- دبدل ښه موښل ۴- پداسې ځای کې غسل کول چه دنامحرم نظر وربانډې پرې نه وځي .

## حیض او نفاس

حیض :

ښځو ته چه هر میاشت کومه وینه راځي هغې ته حیض وایي

. دحیض وینه ناپاکه ده که جامه تویې شی هغه به مینځل

کیږي .

نفاس :

داولاد پیداکیدو نه پس چه کومه وینه دښځې نه ځی هغې ته

نفاس وایي .

## دحيض اونفاس مسائل :

۱- دحيض موده کمه دری ورځې او ذیاته لس ورځې . که له دریو ورځو کم او له لسو ورځو ذیاته شوه نو هغه استخاضه (دحیض پشان مرض دی ) .

۲- دنفاس دکمې مودی حد نشته ذیاته موده یې څلویښت ورځې ده ،که له څلویښتو ورځو مخکی وینه بنده شوه فوراً به غسل کوي اوکه تر څلویښتو ورځو ذیاته شوه نو هغه مرض دی .

۳- دحیض په موده کې سره ،زیړه ،شنه او خاورینه هر
رنګ وینه راغله داټول قسمونه دحیض وینه بلل کیږي .

۴- دحیض او نفاس په دوران کې له ښځی سره یوځای کیدل
حرام دی ځکه حیض په مانا دی ګنده ګی یا زخم دی چه پر
دغه ورځو کې ښځه په عادتي شکل د رحم ناپاکه وینی
غورځوی چه درد او تکلیف هم ورسره وی ،نوپدی وخت کې
یوځای کیدل دنرلپاره د سختو مرضو سبب ګرځی او دښځی
لپاره هم سخت تاوان رسوي .

همدارنګه نفاس او دولادت نه ورسته ناپاکې وینی جریان

لري اودغه وخت هم ښځې سخت مرګونې دردونه تیرکړې

وي چه یوځای کیدل دنر او ښځی لپاره سخت تاوان رسوي .

الهی لارښوونه :

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُواْ النِّسَآءَ فِى

الْمَحِيضِ وَلاَ تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّى يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ (

البقره 222 ).

(( پوښتنه کوی له تا څخه (ای محمده ص ) دحیض دحکم نه

، ووایه دوی ته چه دا یوګندګی ده ، په حیض کې له ښځو

لرى اوسى ترڅو چه پاکى نشى مه ورنږيدې کيږي ، کله چه

ښى پاکې شى بيا ورسره يوځاى شى )).

نور نو يوځاى ورسره آرام کول ، ډوډى خوړل او نور ټول

رواه دي ،داسې نه لکه د جاهليت دوران چه له ښځې څخه د

حيض او ولادت په دوران کې کرکه وشي .

بلکى د احترام په سترګه ورته وکتل شوې چې د خداى ج د يوه

بشر د تولد لپاره يې سختى قربانۍ ورکړي دي اوهمدارنګه

حيض هم د اولاد لپاره د رحم دتصفيې مخکنى تيارى وي .

۵- عموماٌ دنهو کلو نه مخکی وینه نه راځی که راشي نو هغه

حیض نه بلکی مرض دی .

۶- دحیض او نفاس په حالت کې ذکر او دعا کولې شي .

۷- دحیض او نفاس په دوران کې لمونځ ،روژه او دقرآنکریم

تلاوت کول منع دي ، ورسته به د پاکې په حالت کې د روژی

قضايي راوړی د لمانځه قضايي نشته .

۸- داستحاضه یا مرض په حالت کې لمونځ ،روژه او

دقرآنکریم تلاوت شته ،دهر لمانځه لپاره به ځانګړی اودس

کوي .

## داستنجا بیان :

دلویو او وړو متیازو نه ورسته دبدن پاکولو ته استنجا وایي .

په اسلامي شریعت کې په استنجا کولو ډېر ذیات تنګار شوي

دی ځکه چه داستنجا په بې پیروایې کې سخته ګناه ده او

رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه دغذاب قبر سبب بللې ده .

له قضای حاجت ورسته لومړی باید دضرورت په اندازه لوټو

په ګین لاس خپل ځان ښه پاکول اوبیا اوبو باندې پاکي

حاصلول سنت دي .

دخالې متیازو نه ورسته ترهغی په لوټو باندی استنجا کول

پکار دی چه دلندوالی شبهه پاتې نشي اودوچوالی پوره

اطمینان حاصل شي .

که قضایی حاجت ته نه وي تللې په خالي باد یا خوب سره استنجا کول ضروری نه دي ځکه چه استنجا دنجاست لري کولو لپاره وي .

## استنجاء ، اودس او تیمم

داوداسه طریقه :

رسول الله صلی الله علیه وسلم یواځی داودس کولو دطرقې

تعلیم نه دی ورکړئ بلکی عملاًیې د اودس طریقه ښودلې چه

په لاندې ډول ده:

اول داودس لپاره په زړه کې نیت کول – بیا به بسم الله

الرحمن الرحیم ووایي – دواړه لاسونه تر مړوندو پورې

درى ځله پریمنځل – بیا درى ځله په خوله ابه تیرول اوکه

مسواک وي ډیر ه بهتری لري ځکه چه د مسواک په باره کې

په احادیثو کې ذیات ترغیب راغلی دی او همدارنګه دحلق

غرغړه کول – بیا دری ځله په پوزه اوبه تیرول او په چپ

لاس سره دهغه پاکول – بیا دری ځله مخ مینځل دیو غوږ له

نرمۍ څخه دبل غوږ تر نرمۍ پورې او دتندي له ویښتانو تر

زنې پورې که ګیره کښه وي نو هغه به په ګوتو خلال کړی

تر څو د ویښتانو بیخو ته اوبه ورسیږی او که ږنګئ وي نو

خپله اوبه ور رسیږي .

بیا دواړه لاسونه سره له څنګلو دری ځله مینځل لومړی ښی

لاس ورپسی چپ لاس مینځل ،که په ګوتو کې ګوتې یا ګتمه

وي دهغه ښورول پکار دی تر څو ابه ورشي بیا به د دواړو

لاسو ګوتې یو په بل کې واچوي خلال یې دې کړي – بیا یو

ځل د ټول سر مسح کول داسې چه غټه ګوته اودشهادت ګوته

جلاکړي پاتې نورې د دواړو لاسونو درى درى ګوتې سره

ولګوي دګوتو دننی حصی دې دتندي له ویښتانو دخټ لوری

ته ترآخره کش کړي بیا دې د دواړو لاسونو ورغوي دچټ له

لورې دمخی په لور راوګرځوي چه ټول سر مسح شي – بیا

به دواړو غوږونه مسحه کړي داسې چه دشهادت ګوتی په

غوږونو کې داخلی او غټی ګوتو به دغوږونو بیرونی حصه

مسح کړي – بیا به دګوتو پر شا دغاړی مسح وکړي . بیا

دواړه پښی دښنګرو سره دری ځله پریمنځل لومړی ښی پښه

ورسته چپه پښه مینځل او د دواړو پښنو دګوتو خلالول د لاس

په کچیٔ ګوته سره ورسته دا دُعا ویل :

اَشْهَدُ اَنْ لاَّاِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَحْدَه لاَ شَرِیْکَ لَه وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدٌاعَبْدُه

وَرَسُوْلُه

اَللهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ الْتَّوَّابِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِیْنَ

پاس طريقه همغه ده كومه چې په احاديثو كې ذكر شوى

طريقه ده .

داودس فرضونه :

په اودس كې څلور فرض دي ١- يوځل د مخ مينځل ديوغوږ

له نرمى دبل غوږ ترنرمى پورې اودتندي له ويښتانو تر زنى

دتېول مخ مينځل ٢- د دواړو لاسونو مينځل سره له څنګلو ٣-

دسرڅلورمه حصه مسح كول ۴- د دواړو پښو مينځل

دښنګرو په شمول .

که ددی اندامو په مینځلو کې دیوه ویښته قدری ځای وچ پاتی

شي اودس نه کیږي .

داودس سنتونه :

۱- د اودس نیت کول ۲- بسم الله الرحمن الرحیم ویل ۳-

دمړوندو سره د دواړو لاسونو پریمنځل ۴- دخولې دری ځله

مینځل اوغرغړه ۵- په پوزه کې دری ځله ابه اچول ۶-

دمسواک وهل ۷- د ږیرې خلالول ۸- دلاسونو اوپښو دګوتو

خلالول ۹- هر اندام دری ځله مینځل ۱۱- دټول سر مسح

کول ۱۲- د دواړو غوږونو مسح کول ۱۳- د اندامو پرلپسې

مینځل چه یو وچ شوی نه وي د بل مینځل ۱۴- لومړی ښی

اندام مینځل ورپسی چپ اندام مینځل ۱۵- دهراندام دمینځلو

په وخت کې دهغه ښه موښل ترځو وچ پاتی نشي .

د اودس آداب :

۱- په اوچت ځای کیناستل ۲- مخ په قبله اودس کولو ته

کیناستل ۳- بغیر له غذر له بل چا څخه مدد نه غوښتل ۴- په

پوزه کې په ښه شان اوبه اچول او دهغه په ګین لاس پاکول

۵- د اودس په وخت کې دنیاوی خبری نه کول که نیکې او د

ضرورت خبره وي نو باک نلری ۶- که په ګوتو کې ګوتیې

یا په پوزه چارګل وي هغه ته حرکت ورکول تر څو دهغه

ځای وچ پاتې نشي ۷- داودس په پای سره د اودس دختم

دوعا لوستل کوم چه مخکی بیان شوه.

داودس ماتوونکی:

په کومو څیزونو چه اودس ماتیږی هغه دوه ډوله دي.

۱- یو هغه چه د بدن له داخل نه راوځي .

۲- بل هغه چی له بهر نه په بنده باندی مسلط وي .

لومړی ډول :

۱- دتشو یا ډکو متیازو راوتل ۲- دشا له خوانه باد خارجیدل

۳- دتشو یا ډکو متیازو له ځای څخه دڅه شی راوتل لکه

چنجی ،وینه اونور ۴- دبدن له کومی برخی نه وینه بهیدل ۵-

په ډکه خوله ګانګی ۶- که ګانګی لږ لږ وي خو له مجموع نه

یې په ډکه خوله ګانګی پوره کیده نو اودس ماتیږي ۷- که

خوله یا غابښونه وینی شی او دوینی رنګ پر لاړو غالب شي

اودس مات شو ۸- دمنی او مذی په راوتلو سره ۹- دسترګو

په مرضئ کې له سترګو نه خیری یا اوبه راووځی اودس

ماتوی که دایمی وي اودس به د مغذور په شان کوي ۱۰-

دبنځې له سينی نه بغير له شيدو اوبه يا بل شی راووځی او

درد ورسره وي اودس ماتيږی ۱۱- حيض او نفاس سره

اودس ماتيږي .

دوهم ډول :

۱- ستونی ستغ ،پړمخ پريوتلو يا ډه ډه وهلو په حالت کې

ويده کيدل اودس ماتوي .

۲- بی هوشي ۳- دنيشه ای څيز خوړل يا څښل ۴- دجنازی

له لمانځه پرته په نورو لمانځونو کې په قهقهه (په زوره )

سره خندل ۵- دښځی اومیږه یو ځای کیدل سره دشرمګاه

داخیلیدل او دانزال نه کیدل .

## داودس مکروهات :

۱- له ضرورت ذیاتې ابه مصرفول ۲- دومره کمې اوبه مصرفول چه د وچ پاتې کیدلو ویره وي ۳- د اوداسه په دوران کې بی ځایه خبری ۴- مخ ته په زوره لپه اوبه ورشنل او همدارنګه نورو اندامو ته په زوره اوبه ورشنل ۵- کوم اندام له دری دری ځلی نه ذیات پریمنځل ۶- په نویو ابو سره دری ځلی مسح ۷- له اوداسه نه ورسته دلاس اوبه څنډل ۸- له کوم غذر پرته د هغو غړو مینځل چه په اوداسه کې یې مینځل ضرور نه وي ۹- د اوداسه دآدابو پریښودل او دهغه خلاف کول .

## تیمم

تیمم د الله سبحانه وتعالی یوه بله لویه لورینه او مهرباني ده

چه یواځی یې د خپل نازولی پیغمبر حضرت محمد ص په امت

کړی ده تر دې مخکی امتونو کې تیمم نه ؤ.

داچه که کوم کس ناروغ شي او ابه ورته ضرر رسوي یا په

سفر کې یا پر بله وجه اوبه نه وي نو د اودس او غسل پر

ځای به تیمم ووهی . قوله تعالی :

وَإِن كُنتُم مَّرْضَى أَوْ عَلَى سَفَرٍ أَوْ جَاء أَحَدٌ مِّنكُم مِّن الْغَآئِطِ أَوْ

لاَمَسْتُمُ النِّسَاء فَلَمْ تَجِدُواْ مَاء فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُواْ

بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا 43

(( اوکه وئ تاسې مریضان یا په سفر باندې (په حالت د بې

اودسی او جنابت کې) یا راشی یو له تاسی له بیدیا (له بولو یا

متیازو ) نه یا جماع وکړئ تاسی له ښځو سره نو ونه مومئ

تاسې اوبه ( یا یې نشي استعمالولی) نو په پاکه خاوره تیمم

ووهی مسحه وکړئ تاسی په مخونو خپلو اوپه لاسونو خپلو

(ترځنګلو پوری ) یقیناً چه الله غفوه کوونکی او مهربان دی))

.

## دتیمم تعریف :

دتیمم لغوی معنی اراده یا قصد کول دی .

اوپه شریعت کې په پاکه خاوره یا کوم شی چه د خاوری له

جنس څخه وي په هغی سره د پاکی حاصلولو ته تیمم وائي .

## دتیمم فرضونه :

په تیمم کې دری فرضونه دی ۱- نیت ۲- د دواړو لاسونو په

پاکه خاوره باندې وهل اوبیا یې پر مخ باندې داسې راکشول

چه هیڅ کوم ځای پاتی نشی . ۳- دواړه لاسونه دوباره په

خاوره وهل او د دواړو لاسونو د ښنګلو سره داسې مسح کول

چه د ويښته قدري ځای هم پاتی نشی .

**دتيمم سنت :**

د تيمم مسنونه طريقه داده چه ۱- د بسم الله الرحمن الرحيم

ويل ۲- نيت کول دنيت مطلب دادی چه د الله ج د رضاد پاره

په زړه کې د پاکی حاصلولو نيت وشي – بيا به د دواړه

لاسونه تلې په خاوره باندې ووهی اوبيا خپل مخ ورباندې

مسح کړی بيره به خلال کړی که په لاسونو باندې خاوره

نښتی وي هغه به وڅنډی بيا به دواړه لاسونه په خاوره ووهي

او دواړه لاسونه سره له ښنګلو په هغی باندې وموښی ښی

لاس په ګينې لاس او ګين لاس په ښی لاس مښل کيږي ، که

په کوټو کې ګوتې یا بل شی وي هغه به یا وباسی او یا به

حرکت ورکوي .

تیمم د اودس او غسل لپاره یو شان دی .

**په کومو ځیزونو سره تیمم جایز دی :**

پاکه خاوره یا د خاوری له جنس څخه بل شی لکه کانړی (چه

دخاوری ګرد ولری ) ،چونه ،ګچ ، ریګ ،جغل او دختو

اوخښتو دیوال که په لرګی یا بل څه د خاوری ګرد پروت وي

نو په هغه هم تیمم کیږي (درمختار ،عالګیری ) .

کله تیمم روا کیږي :

۱- چه اوبه له یو میل یا 1.6 کلو متره لری وي یا لدینه لری
وي .

۲- د ابو سره نږیدی څه مضر ځناور یا دوښمن وي چه د
خطر او نقصان ویره وي .

۳- په طیاره یا ریل کې سپور وي هلته اوبه نه وي یا د اودس کولو موقع نه وي .

۴- چه ناروغه ته د مرض د ذیاتیدو او نقصان ویره وي .

۵- په سفر کې وي خو دومره اوبه ورسره پاتی وي چه که په هغه باندې اودس وکړی نو بیا به د څښلو لپاره څه نه وي د تندی ویره وي .

۶- اوبه وي خو خپله یې نشی راختی او بل څوک د ورکولو هم نه وي .

۷- په اودس یا غسل کولو د داسې لمانځه د تلو ویره وي چه قضایې نلری لکه د اخترونو او جنازی لمونځ .

دغه ټولو صورتونو کې د اودس او غسل پر ځای تیمم کیدلای شي (علم الفقه ، عالمګیری ).

دتیمم ماتونکی :

۱- په کومو شیانو چه اودس ماتیږی په هغه تیمم هم ماتیږي.

۲- د ابو په پیدا کیدلو.

۳- دغسل په فرض کیدلو سره تیمم ماتیږي .

۴- دکوم غذر لرلو په وجه چه یې تیمم کولو د هغه لری کیدل .

ضروری مسائل :

1- کوم څوک د یو ظالم او جابر په جیل یا زندان کې بندی وي اودس ته یې نه پریږدي که د خاوری امکانات وي تیمم به وهي اوکه ددی دواړو لپاره څه نه وي یا یې نه پریږدی بیا به بله اودس څخه لمونځ کوی کله چه اوبو ته لاره هواره شي بیا به قضایې ګرځوي .

آن لاین اسلامې لاربنود

## دلمانځه فرضیت

په قرآنکریم کښې ډیر آیتونه دلمانځه په باره کې نازل شوي چه په هغه آیتونو کې الله (ج) مسلمانانوته ددی ستر عبادت حکم فرمائی. الله (ج) فرمایي :

**«فَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ إِنَّ الصَّلاَةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا(النساء ١٠٣)».**

((قائموي تاسې (سم اداکوی سره له ټولو حقوقو) لمونځ ! بیشکه چه لمونځ دی پرمؤمنانو فرض کړي شوی په معلومو اوقاتوکښی)).

**«مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَاتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا الصَّلاَةَ وَلاَ تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ (الروم ٣١)».**

((رجوع کوونکې دي دغه (الله) ته او ویریږي (له غذابه) دالله او قائموی (سم اداکوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ اومه کیږي له مشرکانو)).

**«وَأَنْ أَقِيمُواْ الصَّلاةَ وَاتَّقُوهُ وَهُوَ الَّذِيَ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ (الانعام ٧٢)».**

((حكم شوى دى مونږ. ته دالله له طرفه) په دي چه قائموى (سم اداكوي سره له ټولو حقوقو) تاسي لمونځ اوويريږي تاسې له دغه (الله) نه اودغه (الله) همغه ذات دى چه ده ته به ورټول كړشى تاسې (په قيامت كې)).

**وعن ابن عمر رضي الله عنهما : أَنَّ رَسُول الله صلي الله عليه وسلم ، قَالَ : (( أُمِرْتُ أنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أنْ لاَ إلهَ إلاَّ اللّٰه ، وَأنَّ مُحَمَّداً رَسُول الله ، وَيُقيمُوا الصَّلاَةَ ، وَيُؤتُوا الزَّكَاةَ ، فَإذَا فَعَلُوا ذلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءهُمْ وَأمْوَالَهُمْ إلاَّ بحَقِّ الإسْلاَمِ ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى الله تَعَالَى ))** مُتَّفَقٌ عَلَيهِ .

له ابن عمر (رض) نه روايت دى چه رَسُول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي :ماته حكم شوى چه ترهغه له خلكو سره جنګ كوم ترڅو چه هغوي ګواهي ونه كړي چه بغير له الله بل معبود نشته

اومحمدصلى الله عليه وسلم دالله رسول دى ،اولمونځ قائم نكړى او زكات ورنكړى ،چه كله هغوى داسې اعمال شروع كړي نودهغوى وينه ،دهغوى مال محفوظ اومامون شول ــ بغير دحق داسلام نه (دزړونودخبرو) حساب به دالله په ذمه وي .

**«مُرُوا أَوْلاَدَكُم بالصَّلاَةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْع سِنِينَ وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرِ، وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي المَضَاجِعِ»** (بخارى)

((کله موچه اولادونه اوه کلنی ته ورسیدل ه غوی ته په لمانځه کولو امر وکړئ اوکله چه لس کلنی ته ورسیږي لمونځ ونه کړي هغوی ووهي اوپه همدی سن کې د دوی بسترى ورجلاکړي))

دلمانځه اهمیت

لمونځ ددین ستن ده داسلام اوکفر ترمنځ سرحد دی نوځکه

دلمانځه دفضیلت په اړه بیخي ډیر قرآني آیتونه او احادیث

راغلې دي چې دلنةمو دهغه جملې څخه ځنې رانقل کړي دي

.

**وَأَقِمِ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ (العنکبوت ۴۵).**

**(( اوقائموه لمونځ یقیناً لمونځ منع کوي (لمونځ کوونکی ) له فحشآء اوناوړه چارو څخه ، اوخامخا یادول دالله ډیر لوی دی او الله په هغه څه پوهیږي چه تاسې یې کوی )).**

وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ٩ أُوْلَئِكَ هُمُ

الْوَارِثُونَ١٠ الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ

(المؤمنين ١١-٩) .

اوهغه ( كسان هم كامياب شول ) چه دوى هميشه

دلمونځونو خپلو ساتنه كوي (چه تل يې سم اداكوى سره له

ټولو حقوقو ) هم دغه (مؤمنان ) هم دوى دى وارثان هغه

(وارثان ) چه په ميراث به اخلى فردوس دوى پدغه جنت

الفردوس كې تل پاتې كيدونكي دي.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ

الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ

(البقره ٢٧٧).

يقيناً هغه کسان چه ايمان يې راوړی دی او کوي دوی ښه

عملونه او قايموی لمونځ (په ښه شان ) او ورکوي دوی

زکات شته دوی لره اجر په نزد د رب د دوی او نشته هيڅ

ډول ويره پر دوی باندې او نه به دوی ( هيڅکله ) غمجن

کيږي.

**وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلاَتِهِمْ يُحَافِظُونَ ٣٤ أُوْلَئِكَ فِي**

**جَنَّاتٍّ ُكْرَمُونَ (المعارج ٣٥ )**

هغه کسان چه دوی دخپل لمانځه ساتنه کوي دغه کسان بهپه

عزت سره دجنت په باغونو کې اوسيږی

بنوي (ص) ارشادات :

عَنْ ابی قتاده بن رِبْعی (رض) قَال قَال رسول الله صلی الله عليه

وسلم قَالَ اللهُ تعالی **اِنِّی افْتَرَضْتُ عَلی اُمُّتِکَ خَمْسَ صَلَوٰاتٍ**

**وَعَهِدْتُّ عِنْدِى عَهْدًا اَنَّه مَنْ خَافَظَ عَلَيْهِنَّ لِوَقْتِهِنَّ اَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ فِىْ عَهْدِى وَمَنْ لَّم يُحَافِظْ فَلاَ عَهْدَ لَه عِنْدِى**

**(ابوداود،ابن ماجه،بيهقى).**

چه ماستا په امت پنځه وخته لمونځونه فرض کړي دي اوددى مي خپل ځان سره وعده کړي ده چه څوک داپنځه لمونځونه په خپل وخت کښې ادا کولو پابندى وکړي هغه به پخپله ذمه وارى جنت ته داخلومه اوڅوک چه ددى لمونځونواهتمام نه کوي نوپه ماباندې دهغوى هيڅ ذمه دارى نشته .

**وعن أَبي زهير عُمارة بن رُوَيْبَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله (( لَنْ يَلِجَ النَّارَ أحَدٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا )) يعني : الفَجْرَ والعَصْرَ . رواه مسلم .**

له ابی زهیر عماره بن رویبة (رض) نه روایت چه ما درسول

(ص) ښخه واوریدل چه هغه سړی به هر ګز دوزخ ته داخل

نشی چاچه دنمرختلو اوپریوتلو نه مخکی لمونځونه یعنی

دسحر اومازیګر وکړي .

له ابن مسعود(رض) نه روایت چه ما رسول الله (ص) نه پوښتنه

وکړه چه کوم اعمال بهتر دی – نبی صلی الله علیه وسلم

وفرمایل :

**(( الصَّلاَةُ عَلَى وَقْتِهَا )) قلتُ : ثُمَّ أيٌّ ؟ قَالَ : (( بِرُّ الوَالِدَيْنِ )) قلتُ : ثُمَّ أيٌّ ؟ قَالَ : (( الجِهَادُ في سَبِيلِ اللهِ )) متفقٌ عَلَيـهِ**

په خپل وخت لمونځ کول ،ماوویل ددی نه ورسته ؟ نبی صلی

الله علیه وسلم وفرمایل دموراوپلار سره ښه سلوک !ماپوښتنه

وکړه ددی نه ورسته کوم؟ هغوی صلی الله علیه وسلم

وفرمایل دالله(ج) په لار کی جهاد (بخاری اومسلم).

دلمانځه اهمیت اودلمانځه په غفلت کولوسخت غذابونه :

لمونځ په دین کې داسې دي لکه دانسان په بدن کې سر

نوخومره اهمیت به لري ؟

خدای (ج) مه کړه که څوک دلمانځه په غفلت اخته شول

نوخپل ځان يې دتباهۍ لویې کندې ته برابرکړي دي ژر تر

ژره دې توبه وباسي .

**مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ ۴۲ قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّي(المدثر۴۳).**

**تاسې څه شي دوزخ ته بوتلی ، هغوی به ووايي مونږ له**

**لمونځ کونکو څخه نه ؤ.**

**رسول الله د ژوندو په ورستی وخت دا سې تېګار کولو :**

**الصَّلَاةَ الصَّلَاةَ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ (** ابي داود,ابن ماجه, ومسند أحمد)

دلمانځه اداكول،دلمانځه په اداكولو اوله مزدورانوسره دښی رویی خیال ساتی.

**«مَنْ حافَظَ عَلَيْهَا، كَانَتْ لَهُ نُوراً وبُرْهَاناً وَنَجَاةً يَوْمَ القيامَةِ، وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا، لَمْ يَكُنْ لَهُ بُرْهَانٌ وَلا نُورٌ وَلَا نَجَاةٌ، وَكَانَ يَوْمَ القِيَامَةِ مَعَ قارُونَ، وَهامَانَ، وَفِرْعَوْنَ، وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ»** مسند امام أحمد وابن حبان

(( څوک چه په لمانځه (سره له حقوق) دایمی پابندوي هغه لمونځ به دقیامت په ورځ دده لپاره دلیل ،وسیله اورڼایي وګرځي، اوڅوک چه دلمانځه پابندی ونه کړي دده لپاره به په قیامت کې نه دلیل وي ،نه وسیله،نه نجات اونه به نور وي

،اودقيامت په ورځ به له قارون،فرعون،هامان اوابی بن خلف سره يو ځای حشر کيږي)).

**«بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلاَةِ»**. صحيح مسلم

(( فرق په مابين د مؤمن اوكافر او مشرك كې دلمانځه ترك كول دي)).

دابی هريره(رض) نه روايت چه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: (( إنَّ أوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ العَبْدُ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلاَتُهُ ، فَإنْ صَلَحَتْ ، فَقَدْ أفْلَحَ وأَنْجحَ وَإنْ فَسَدَتْ ، فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ ، فَإنْ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيضَتِهِ شَيْءٌ قَالَ الرَّبُ ج انْظُرُوا هَلْ لِعَبدي من تطوّعٍ ، فَيُكَمَّلُ مِنْهَا مَا انْتَقَصَ مِنَ الفَرِيضَةِ ؟ ثُمَّ تَكُونُ سَائِرُ أعْمَالِهِ عَلَى هَذَا )) (رواه التِّرمِذِيُّ).

(( دقیامت په ورځ به دبنده په اعمالو کې (دټولو نه مخکې )

دهغه دلمانځه حساب وي کچرى دهغې دلمانځه حساب صحيح

ووتلو نوکامیاب شو اونجات یې ومود اوکه چیرې خراب

راووت نونامراداوتاواني شو که فرضوښخه کم راووتل نوالله

تعالی به وفرمايي وګورئ که دده په عمل نامه کې نفل وي

نودهغه په ذریعه داکمی پوره کړي ددی ورسته دپاتې اعمالو

حساب کتاب هم له دې انداز‌ې کیږي )) ( ترمذی)

**له لمانځه نه غافله مسلمان ورور سره څو خبرى**

غير مصنف أغسطس th, 200918

له لمانځه نه غافله مسلمان ورور سره څو خبرى :

پوښتنه مې وکړه ځنګه لمونځ نه کوی؟

ويل يې : مشغول ومه

ومې ويل : څه مشغوليت ؤ ترلمانځه هم مهم په داسې حال

کې چه دقيامت په ورځ به لومړی حساب دلمانځه وي .

ويې ويل : پوهيږی چه ددنيا مشغوليت ذيات دی نوڅه بايد

وشي ؟

ومې ويل :آيا نه پوهيږی چه داسلام اوکفر ترمنځ سرحد

لمونځ دی ؟

حديث شريف : **بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلاَة**

ويې ويل : مسلمانې يواځی په لمانځه کې نده ،مهمه داده چه

دانسان زړه پاک وي ،زه مسلمان ته ضرر نه رسوم ،له

خلکوسره ښه سلوک لرم اودټولوسره خوش اخلاقی کوم.

ومې ويل : دغه شيطانی حيله ده چه ځنی مسلمانانوته دهغه

په وسيله فريب ورکوي ترڅودګناه مرتکب شي ،چه دی

فکرکوي مابه ښه کارکړی وي زه خوښه سړی یم حال داچه

ترلمانځه نولویه ګناه شته ؟ داسترعبادت ګوره !

دادشیطان وسوسی دي چه زمونږ ناوړه اعمال راته ښه

ښکاره کوي.

**قوله تعالی : وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ (الانفال ۴۸)**

ویې ویل :ډیرخلک شته چه لمونځ کوي خوبیا هم ګناه کوي.

ومې ویل :نوځوک چې لمونځ کوي هغه به نو ګناه نه کوي

معصوم به وي ؟ معصوم له ګناه خو یواځی پیغمبران

دي،خوته لمونځ کوه اوورسته ناوړه اعمال پریږده اوښه

کارونه شروع کړه ،همدغه ته به یوه نمونه وی په ټولنه کې

اوستا ښه اعمال به په ډیرو خلکو تأثیر وغرځوي. : زه خو

کلمه د لااله الاالله وایم اوالحمدالله مسلمان یمه اورسول الله

(ص) فرمایلی چه لااله الاالله دجنت کلیۍ ده اوخوک چه لااله

الاالله ووائی د دوزخ اور په هغه کس حرام دی اوبل داچه الله

(ج ) غفوراورحیم دی.

ومې ویل :داچه لااله الاالله دجنت کلیۍ ده هیڅ شک پکې نشته

ولی پوهیږی چه علماؤ په شرح ددی حدیث شریف څه

ویلی؟.

لااله الاالله دجنت کلیۍ ده ولی هره کلیۍ دندانی لری چه دهغه

په وسیله دروازه خلاصیږی اودجنت دکلیۍ دندانی صالح

اعمال دي او لااله الاالله بدون له عمل په اسلامی تعلیماتو په

شان دبی دندانو کلیۍ ده .

قوله تعالی :**وَبَشِّرِ الَّذِين آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ**

**جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ (البقره ٢٥)**.

قوله تعالی : **وَالَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ أُولَـئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (البقره ٨٢).**

**نوثابته شوه چه ایمان اونیک عمل لازم اوملزوم دی .**

**یوبل ورور ؤ چه سخت زحمتکښه ؤ خولمونځ یی بالکل نه کولو .**

**ورته ومې وویل وروره ته ولی لمونځ نه کوی ؟**

**راته ویې ویل : له وسه می نه کیږي اوترټولو ګران شی ماته لمونځ کول دي.**

**په لمانځه کې خو سستی کولو کې هم سخت وعید دی وار خو د بالکل پریښودوشو.**

**قوله تعالی :**

**إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ وَإِذَا قَامُواْ إِلَى الصَّلاَةِ قَامُواْ كُسَالَى يُرَآؤُونَ النَّاسَ وَلاَ يَذْكُرُونَ اللّهَ إِلاَّ قَلِيلاً (النساء ١٤٢ ).**

**بيا مى ورته دلمانځه اهميت او دلمانځه دپريښودو سخت غذابونه بيان كړل ، ددى نه ورسته هغه كس سخت خفه شو دغه وخت درمضان روژى ته څو ورځى پاتى وى ، ورسته يى راته وويل زه هر كال يواځى په روژه كې لمونځ كوم كله چه روژه ختمه شي زما لمونځ هم ختم شي ، خو نن ورځ زه له خپل رب (ج ) او تا سره وعده كومه چه دروژى له پيل څخه ورسته به بيا دمرګ ترورځى لمونځ قضا نه كړم .**

**همغه ؤ چه ورسته بيا دټولو څخه مخكې همدا كس لمونځ نه پاڅيدلو.**

**ګرانه !**

**آيا لمونځ ماليات غواړي ؟ چه دپيسو په ورکړه دي زړه ونه شي .**

**آيا لمونځ دومره ډير وخت نيسي چه تا دژوند له چارو محروم کړي ؟**

**آيا لمونځ دومره دروند عمل دی چه تا سخت ستړي کړي ؟**

**آيا لمونځ کوم مباح عمل دي چه ثواب اوغذاب ونه لري ؟**

**بلکی لمونځ دمسلمان دنجات ذريعه ده او دلمونځ په غفلت سره دسختو غذابو نوخبرداری ورکړ شوی دي .**

**لمونځ يوه الهی منظمه برنامه ده چه په ټاکلو اصولو اوټاکلو وختونو تر سره کيږي ،هيڅ څوک هم ددی برنامی دتغير توان نلري .**

## ګرانه !

لمونځ دورځی پنځه وخته یواځی څو دقیقی وخت نیسي چه بنده دخپل ستر څښتن (ج) حضور ته درېږی او دهغه (ج) مناجات کوی .

نو ګرانو وروڼو اوخوندو راځي !

نور ددی پر ځای چه شیطان ته تسلیم وو او هغه پر مونږ باندې دخپل زړه لوبې وکړي راځی ! خپل رب (ج) ته تسلیم شو اونور دهغه (ج) پوره اطاعت وکړو .

ګرانه پام کوه ! کله داسی فکر اوسوچ ونه کړی چه زه خو نو ډیر ګنهګاریم نور نو له شرمه دتوبی اودوعا لاسونه خپل رب(ج) نشم پورته کولی .

پوه شه داسې فکر هیڅ کله هم مه کوه د الله تعالی د رحمت دربار هر کله دخپل بنده پر مخ پرانیستي دی

الله (ج) په ډیره مهربانۍ سره خپلو ګنکارو **بندګانو ته داسې خطاب کوي :**

**قوله تعالی :**

**يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لاَ تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ (الزمر ٥٣ ).**

**ای زما بنده ګانو! کومو کسانو چه پر خپلو ځانونو تیری کړی دی دالله له رحمت څخه مه ناهیلی کیږی یقینًا الله ټولی ګناوی ببښی هغه خو ببښونکی اومهربان دی .**

**اود توبی په اړه د رسول الله (ص) وینا هم ولوله :**

وعن أبي حمزةَ أنسِ بنِ مالكٍ الأنصاريّ – خادِمِ رسولِ الله صلى الله عليه وسلم قَالَ : قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم : للهُ أفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ سَقَطَ عَلَى بَعِيرِهِ وقد أضلَّهُ في أرضٍ فَلاةٍ (متفق عليه ).

له ابي حمزه انس بن مالک انصاری (رض) خادم رسول الله (ص) نه روایت دی چه رسول الله (ص) فرمایلی :

چه دیوه کس نه په یوه دښته یا صحرا کې خپل اوښ ورک شوی وي او هغه پیدا شي نو دغه کس به څومره خوشحالیږي – بس الله تعالی ددی نه هم ذیات دخپل بنده په توبه ویستلو خوشحالیږي .

ګرانه نور نو ستا خوښه ده چه څرنګه خپل تصمیم ونیسې .

خدای (ج) دي په اخلاص سره د رجوع او توبی کولو توان ما

اوتاته راکړي .

## د لمانځه وختونه

غير مصنف أغسطس th, 200918

دلمانځه وختونه :

دلمانځه وختونه په ځنوقرآني آيتوکې راغلي دي .

**أَقِمِ الصَّلاَةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَى غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا (الاسراء ٧)».**

((قائموی (سم اداکوئ سره له ټولو حقوقو) لمونځ ورسته له

زواله دلمرترتياري دشپې پوری (يعنی دظهر،عصر،مغرب

اوعشاء لمونځونه ادا کړه !) اوله قرائت دفجر(یعنی دسهارلمونځ ادا کړه) بیشکه چه قرآن لوستل (لمونځ کول) دفجرحاضرشوی دی (یعنی ورحاضریږی ملائک دشپی اود ورځی )).

**«وَأَقِمِ الصَّلاَةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّـيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ (هود ١١٤)».**

((او قائم کړه (سم ودروه سره له ټولو حقوقو) لمونځ په دواړو طرفونو دورځی اوپه ساعاتو له شپي (چه نژدي وي ورځی ته) یقیناً چه نیکی (یعنی پنځه وخته لمونځ) لری کوی بدي (کوچنی ګناهونه) ،دغه (حکم اووعده) پند دی لپاره دپندقبلوونکو)).

**« نَزَلَ جِبْرِيلُ فَأَمَّنِي فَصَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ يَحْسُبُ بِأَصَابِعِهِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ»**

بخاري

((جبرل نازل شو اوما دهغه په امامت له هغه سره لمونځ وکړ،بيامي ورسره لمونځ وکړ، بيامي ورسره لمونځ وکړ، بيامي ورسره لمونځ وکړ، بيامي ورسره لمونځ وکړ،په ګتوسره يې پنځه لمونځونه حساب کړل))

کله چه رسول الله صَلي الله عَليهِ وَ آلهِ وَ سَلّم معاذبن جبل (رض) يمن ته ليږلو هغه ته يې داسې وفرمايل:

**«ادْعُهم إِلَى: شهادةِ أنْ لا إله إلاّ اللّهُ وأني رسولُ اللّهِ، فإن هُمْ أطاعوا لذلك فأَعْلِمْهُم أنّ اللّهَ افترَضَ عليهم خَمسَ صَلواتٍ في كلّ يومٍ وليلة، فإن هم أطاعوا لذلك، فأَعْلِمْهُم أنّ اللّهَ افترضَ**

**عليهم صدقةً في أموالِهِمْ، تُؤخَذُ من أغنيائهم وتُرَدُّ على فُقَرائهم»** بخاري: 1377

((هغوى دعوت كړه په شهادت د شهادةِ أنْ لا إله إلاّ اللّهُ وأني رسولُ اللّهِ پس كه هغوى دادعوت قبول كړ،نوبيايي پوه كړه چه الله تعالى فرض كړي پرتاسي په هره شپه اوورځ كې پنځه وخته لمونځونه بيايې چه لدې حكم څخه پيروي وكړه نوخبريې كړه چه الله تعالى پرتاسې صدقه (زكات ) فرض كړي ،چه دمالدارو دهغوى نه به اخستل كيږي پر فقرآء اوتنګلاسودهغوى ته به ورګرځول كيږي )) .

مګرشيعيه چه دپنځو وختو لمونځونه په دريووختو كې كوي صريح مخالف له قرآن اواحاديث رسول الله (ص) سره كوي .

پدی اړه محمد عبدالطیف انصاری (مدینه منوره) په خپل

کتاب(**یا غافلاً عن الصلاة**) کې داسې لیکي:

دحضرت علی(رض) د خپل خلافت په دوران کې داسلامی

خلافت ټولو والیانو ته داسې مکتوب ولیږه.

په هغه مکتوب کې دپنځه وخته لمانځه واضح حکم شوی دی

.

دغه

حکم له کتاب نهج البلاغه چه معتبرترین کتاب پس له قرآن

کریم په نزد دشیعیه ګانو دی نقل کوم:

**«أَمَّا بَعْدُ فَصَلُّوا بِالنَّاسِ اَلظُّهْرَ حَتَّى تَفِيءَ اَلشَّمْسُ مِنْ مَرْبِضِ**

**اَلْعَنْزِ وَ صَلُّوا بِهِمُ اَلْعَصْرَ وَ اَلشَّمْسُ بَيْضَاءُ حَيَّةٌ فِي عُضْوٍ مِنَ**

**اَلنَّهَارِ حِينَ يُسَارُ فِيهَا فَرْسَخَانِ وَ صَلُّوا بِهِمُ اَلْمَغْرِبَ حِينَ**

**يُفْطِرُ اَلصَّائِمُ وَ يَدْفَعُ اَلْحَاجُّ إِلَى مِنًى وَ صَلُّوا بِهِمُ اَلْعِشَاءَ حِينَ يَتَوَارَى اَلشَّفَقُ إِلَى ثُلُثِ اَللَّيْلِ وَ صَلُّوا بِهِمُ اَلْغَدَاةَ وَ اَلرَّجُلُ يَعْرِفُ وَجْهَ صَاحِبِهِ »** ليک 52 نهج البلاغه

امابعد**!** دظهرلمونځ له خلکوسره ترهغه اداکړی چه دلمرسيوری په اندازه دځای دوزی دچملاستی شی،اودعصرلمونځ له هغوی سره هغه وخت اداکړی چه لمرسپين وی اودومره پاتی وی چه دوه فرسنګه لاره طی شی،اودمغرب لمونځ هغه وخت اداکړی چه روژه دار روژه ماتوی اوحاجی مناته روانيږی ،اودعشاء لمونځ له هغوی سره اداکړه د شفق له ورکيدوڅخه تردريمی حصی دشپی پوری يې ادا کوی ،اودسهار لمونځ هغه وخت له هغوی سره اداکوه چه هرڅوک يواوبل وپيژني .

دپنځه وخته لمونځونو داوقاتو په اړه داؤ دحضرت علی(رض) فرمان .

خو بیاهم هغه کسان چه دحضرت علی (رض) دمحبت دعواوی کوي ولې پنځه وخته لمونځونه په دریووختوکې ادا کوی؟

،دغه عمل له قرآن ،سنتواودحضرت علی(رض) له حکم سره ښکاره مخالفت دی اوددوی بی ځایه دلائل دهیڅ اعتبار وړ نه دي .

# دلمانځه اداکولو

# وختونه په لاندی

# ډول دی :

۱- دسهار دلمانځه وخت : دصبح صادق یعنی سپیدو چاودلو

نه شروع کیږی آخر وخت دلمر ختلونه مخکې .

۲- دماسپښین دلمانځه وخت : دلمر زوال دغروب په طرف نه شروع کیږي آخر وخت کله چه دهر شی سیوری داصلی سیوری سربیره دوچنده شي .

۳- دمازدیګر دلمانځه وخت : دماسپښین دلمانځه دوخت په ختمیدو سره د مازدیګر وخت پیل کیږی تر لمر لویدو پورې .

۴- دماښام دلمانځه وخت : دلمر لویدو نه ورسته شروع کیږي او دشفق دسوروالی له منځه تلو پورې دوام کوي لکن د ماښام لمونځ باید دومره تأخیر نشي چه په آسمان کې ښه ستوری ښکاره شی .

۵- دماسخوتن دلمانځه وخت : دسرخي د ورکيدو نه پس تر

صبح صادق پورى چه دماښام دلمانځه له وخت يونيم ساعت

ورسته د ماسخوتن لمونځ روا کيږي .

## د لمانځه د ادا کولو طريقه

دلمانځه دادا کولو طريقه :

دلمانځه شروع کولونه مخکې لمونځ کوونکي ته پکار دي چه

ځنګه دى دخپل بدن اوجامو پاکي اوصافي کوي دارنګه زړه

هم ددنيا يي کارونواوخيالاتو نه پاک کړي ځکه چه دى اوس

دخپل رب

[ج] په خضور کې ودريږي .

نيت به وکړي په زړه کې اوکه په ژبه وشى نوبهتره به وي

ځکه په ژبه سره نيت کول د زړه د حضور سره مدد کوي،

الله اکبر به ووايي دواړه لاسونه به دغوږونو تر نرميو پورې

پورته کړي ، ښځی به خپل لاسونه تر اوږو پورې پورته کړي،ورسته به لاسونه تر نامه لاندې ونیسي پداسې شان سره چه دښې لاس غټې ګوتې او کوچنۍ ګوتې د چپ لاس مړوند ونیسي او دښی لاس مینځنی دری ګوتې دچپ لاس په لیچي باندی خپری کیږیدي اوښځه به دښی لاس تلی د چپ لاس په شا نیولی په سینه باندی ونیسي ثنا یا سبحان اللهم به ووایي:

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ إِلٰهَ غَيْرُكَ

ای زما الله ستا ذات پاک دی ته دصفت لایق یې او ستا نوم ډیر دبرکت دی اوستا لویی ډیره لویه ده اوستا ځخه بغیر بل څوک دعبادت لایق نشته .

ورسته به تعوذ یا اعوذ بالله اوبسم الله ووایي :

أعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحمنِ الرَّحِيمِ

زه پنا غواړم په الله ج دشیطان شړل شوی څخه ، (شروع کوم ) په نامه دالله ج چه ډیر ذیات مهربان پوره رحم لرونکی دی .

بیا به دفاتحی سورة الحمدلله ووایی :

الْحَمْدُ للّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ١ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ ٢ مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ٣

تولی ستاینی خاص الله لره دی چه پالونکی دټول مخلوقاتو دی ، ډیر ذیات مهربان او پوره رحم لرونکی دی ، چه څښتن د ورځی دجزا دی

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ٤ اهدِنَــــا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ ٥ صِرَاطَ

ایاالله خاص تاته عبادت کوو ، اوخاص له ستا څخه مدد غواړو ، یا الله راوښیه مونږ ته لاره سمه لاره

**الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِمْ غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّــالِّينَ ٦**

لاره دهغو کسانو چه تا انغام کړی په هغوی باندی

نه لاره دهغو بدو کسانو چه ګمراهان دي

**بیا یو سورة یا کم نه کم دری آیته ولولې :**

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ١ اللَّهُ الصَّمَدُ ٢ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ٣ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ٤

ووايه (اى محمده ) شان دادى چه الله يو دى الله بى پروا دى (الله ته هر شى محتاج دى ) نه ده زيږولى هيڅوک اونهدى زيږول شوى له هيچا څخه - اونشته دغه الله لره برابر (سيال ) هيڅوک .

په قيام کښې به دسجدې ځاى ته ګوري اوددواړو پښو ترمنځ لږ ترلږه بايد دځلورو ګوتو په اندازه فاصله موجوده وي د دواړو پښو پنجې به دقبلې لوري ته وي ، د سورت نه ورسته به الله اکبر ووايي رکوع ته به لاړ شي .

رکوع به داسې کوي چه دده دشا ورستى حصه ، ملا اوسر دتختې په شان برابر اوهوار وي سر ډير ټيټول يا دشا نه اوچت ساتل نه دي پکار د دواړو لاسونو ګوتى به پراخه په ګونډو نيسي ،ښځه به دومره ښکته کيږي چه لاسونه يى زنګون ته ورسى .

بيا به بنه په قراره کم نه کم دری ځله سُبْحَانَ رَبِيَّ الْعَظِيْمِ (زما لوی پروردګار پاک دی ) ووايي ورسته به قومه ت( خدای پاک اوريدلی دی دهغه چا څخه چه حمد يی ووايه ) به ووايي اومقتديان به رَبنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ( ای زمونږ ربه ټول تعريف او ستايش تالره دی ) ووايي اوتنها ګرار به دواړه ووايي ،ورسته به الله اکبر ووايي سجدی ته به لاړشي کم نه کم به دری ځله سُبْحَانَ رَبِيَّ الاَعلی (زما پروردګار پاک دی چه تر ټولو لوی دی ) ووايي،سجده پداسې شان کول پکار دی چه لومړی دواړه زنګنونه پر ځمکه ولګوي بيا د دواړو لاسونو پنځی دغوږونو په برابر کيدي بيا پوزه اوتندی دواړه پر ځمکه ولګوي ، د دواړو لاسو ځنګلی اومړوندونه دځمکی نه پورته او ګيده د ورنونو نه جلا ساتل پکار دی دلمونځ کوونکی دګيډی اوځمکی ترمنځ دومره ځای پکار دی چه د وزې وړوکی بچی دهغه لاندی تريدلی شي او دبنځو لپاره

ورنونه دګیږی سره پیوسته کول اوپښی په ځمکه باندی غوړیدلی ساتل .

بیا به الله اکبر ووايي جلسې ته به لاړشی یعنی د دواړو سجدو تر منځ کیناستل پداسې شان چه ښه پوره کیني او دبدن اندامونه ښه تقرر ونیسی او دا دُعا به ووايي رب اغفر لي وارحمني واهدني وارزقني وعافني واجبرني(الحديث ترمذی ،ابوداود،ابن ماجه) یا تنها رب اغفرلي ووايي دچرګ دټونګې په شان سجده سره لمونځ نه صحی کیږي بیا به الله اکبر ووايي دوهمی سجدی ته به ولاړشي دری ځله به سبحان ربي الأعلى ووايي ورسته الله اکبر ووايي له سجدې څخه به پورته شی له سجدی څخه به داسې پورته کیږي چه لومړي به تندی او ورسته لاسونه پورته کوي د دواړو لاسونو په پراخه نیولو پنځو به ګونډې ونیسي او قیام ته به ځی اوس یو رکعت پوره شو ، په دوهم رکعت کې به لومړی بسم الله الرحمن الرحیم ووايي بیا به سورة فاتحه ولولې آمین به ووايي بیا به یو

سورت يا درى آيته ووايي بيا به الله اكبر ووايي ركوع ،قومه ،سجده او جلسه به وکړي بيا د دواړه سجدو نه پس به قعده وکړي قعده کې به داسې کينې چه ښى پښه ولاړه دپښى ګوتې دقبلې په طرف وي اوګينه پښه به څملوي د پاسه دې پرې کيني او دواړه لاسونه په په ورنو ږدي اوتشهد به وايي ، ښځه به دواړه پښى ښى طرف ته ويستل اوخپل ښى ورون دګين ورون سره جنګول په هغه کيناستل پکار دي او تشهد به وائى :

***التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ***

**ټول قولى عبادتونه – اوټول بدني عبادتونه – اوټول مالى عبادتونه خاص الله لره دى اى نبى (صلى الله عليه وسلم ) پر تا دي دالله سلام رحمت او دالله برکتونه وى**

**السَّلامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ (البخارى،مسلم اوترمذى ).**

اوسلامتی دي وي پر مونږ او دالله پر نيکو اوصالحانو بندګانو باندی – زه شاهدی ادا کوم چه دالله څخه ماسوا بل څوک د عبادت لایق نشته – اوزه شاهدی اداکوم چه محمد صلی الله علیه وسلم دالله بنده اورسول دی .

دلومړی قعدی لپاره همدا تشهد ترپایه لوستل کيږی که آخری قعده وی نو درود اودعا به هم تر پایه ووايي :

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلى مُحَمَّدٍ وَعَلى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلى إبْرَاهِيْمَ وَعَلى آل إبْرَاهِيمَ، إنَكَحمَِيْدُ مَجِيْدُ**

ای الله رحمت نازل کړی پر محمد صلی الله علیه وسلماو دهغه پر آل (کورنی ) څنګه چه دی پر ابراهیم علیه سلام او دهغه پر آلنازل کړی دی يقينًا ته دتعريف اوبزرګی لايق ئی

**اَللّٰهُمَ بَارِكْ عَلى مُحَمَّدٍ وَعَلى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلى إبرَاهِيمَ وَعَلى آلِ إبرَاهِيمَ، إنَكَ حمَِيْدُ مَّجِيْدُ(بخاری ،مسلم ،ترمذی وابوداود).**

ای الله برکت نازل کړی پر محمد صلی الله علیه وسلماو دهغه پر آل (کورنی ) ښځګه چه دی پر ابراهیم علیه سلام او دهغه پر آل برکت نازل کړی دی یقینًا ته دتعریف اوبزرګی لایق ئی

بیا به دُعا ووایی :

**اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسنَةً وَّ فِی الاخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّار**

ای زمونږ ربه ! مونږ لره په دنیا کښی هم نیکی راکړی اوپه آخرت کښی هم او مونږ د اور له غذابه وساتی

**ورسته به سلام وګرځوی .**

**اَسَّلامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰہ په ویلو لومړی ښي طرف او بیا چپ طرف ته سلام وګرځوي**

**ورسته له لمانځه ښځه به دا دُعا ووایي :**

**درى ځله به استعفرالله ووايي بيا دا دعا ووايي اَللهُمَ اَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْکَ السَّلاَمُ تَبَارکْتَ يَاذَالجَلاَلِ وَالاَکْرَامِ (المسلم)**

د لمانځه وروروسته اذکار دلته ولولي

**دلمانځه طريقه بيان شوه .اوس به دلمانځه فرضونه ،واجبات ،سنتونه ،مکروهات او ماتونکې بيان شی دلمانځه داحکامو زده کړه ډيره ضروري ده تر څو سړی د سجده سهوې دلزوم په ځايونو ،دلمانځه په صحت اوخرابۍ پوه شي .**

## د لمانځه فرضونه

دلمانځ فرضونه :

دلمانځه ديارلس فرضونه دي چه اوه دلمانځه څخه بهر او شپږ په لمانځه کښې د ننه دي کوم چه دلمانځه نه بهر دي هغه ته دلمانځه شرطونه وايي اوکوم چه په لمانځه کې دننه دي هغه ته دلمانځه ارکان وايي .

لومړی دلمانځه شرطونه : پدې شرطونو کې که يو هم پاتي شي لمونځ نه صحی کيږي .

۱- په وخت لمونځ کول : دوخت نه مخکې یا ورسته لمونځ کول نه صحی کیږي .
۲- دبدن پاکوالی : یعنی دلمونځ کونکي بدن به دحقیقي او حکمي ناپاکی نه پاک وي که اودس نلري اودس به کوي او که غسل نلری عسل به کوي او که په بدن یې پلیتی وي هغه به مینځي .
۳- دجامو پاکوالی : جامی به پاکې وي که نجاست غلیظه یا خفیفه وي هغه به پریمنځي .
۴- دلمانځه دځای پاکوالی: که فرش ،جاینماز او یا ځمکه وي هغه به پاک وي .
۵- ستر عورت : بدن به په جامو پټ وي دنر لپاره کم نه کم دزنګون څخه تر نامه پورې او دښځی ټول بدن بغیر لاسونو ،مخ او پښو نور ټول بدن عورت دی چه جامه به نازکه نه وي چه دبدن کوم ځای ورڅخه ښکاره نشي دګاج ټکري سره

لمونځ نه کیږی ځکه دهغه نه وینتان اونورځایونه ښکاریږي

.

که دنر دپښو ښنګري پټ وي لمونځ يې مکروه دی اوکه

دښځی ښنګري ښکاره شي لمونځ یی مکروه دی .

۶- مخامخ قبلی دریدل :

۷- دلمانځه نیت کول : نیت خو همغه دزړه اراده ده خوپه

ژبه کول بهتره دی .

دلمانځه ارکان : د لمانځه ارکان شپږ دي .

۱- تکبیر تحریمه - یعنی دنیت تړلو په وخت کښې الله اکبر .

۲- قیام – یعنی د سبحان اللهم – الحمدالله او سورّة لوستلو

لپاره په ولاړه دریدل .

۳- قرآئت – یعنی د الحمدلله اوآمین نه ورسته یو سورت یا

کم نه کم دری آیته لوستل .

۴-رکوع

۵ - سجده ۶ ۶- په آخره قعده کې په خومره وخت کې چه تشهد لوستی شي دومره ساعت کیناستل .

که له شرطونو اوارکانو یو هم قصداً یا په هیره سره پاتې شي لمونځ نه صحی کیږي.

## د لمانځه واجبات او سنت

دلمانځه واجیبات :

۱- دسورة فاتحی یعنی الحمدلله لوستل .

۲- دفرضو په اولو دوو رکعتو کې او دوترو،سنتو او نفلو په ټولو رکعتونو کې ترفاتحی ورسته څه سورة یا دری ایتونه لوستل واجب دي .

۳- سورة فاتحه دبل سورة نه مخکې لوستل واجب دي.

۴- ټول ارکان پرلپسی واجب دي – یعنی که دیوه رکن نه پس د دوهم رکن په اداکولو کښی په بی فکری یا هیری سره دومره وخت تیرشي خومره وخت چه درکوع یا سجدی کولو

كښې تير شي نو سجده سهوه لازميږي – د دُعا وغيره په لوستلو کې که څه ذيات وخت تير شی سجده سهوه نه لازميږي .

او همدارنګه په قيام ،قرأت ،رکوع اوسجده کې ترتيب ساتل واجب دی که درکوع نه مخکی سجده وکړی او دسجدی نه مخکی قعده وشی – نوسجده سهوه لازميږي .

۵- په سجده او رکوع کی دومره ځنډ تيرول په څومره وخت کې چه سړی سبحان ربی الغظيم اوسبحان ربی الاعلی ووايي – کوم خلک چه ډير ژر ژر رکوع اوسجده کوي دهغوی لمونځ نه کيږي .

۶- قومه کول – يعنی درکوع نه پس په ښه شان دريدل ،پدی کې هم ډير خلک په پوره توګه نه دريږي په پيړه سجدی ته ځی ،داسی کولوسره هم لمونځ فاسيديږي .

۷- جلسه کول – يعنی د دؤ سجدو په مابين کې په ښه شان کيناستل چه د بدن ټول اندامونه کرار شي او دپوره ناستي

گمان پرى وشي ،ځنى كسان دچرګ په شان ټونګى وهى چه لمونځ يى نه صحى كيږي ځكه جلسه واجب‌ده دواجبو په قصدي ترک سره لمونځ فاسديږي .

٨ – لومړى قعده .

٩- په دواړو ركعتونو كى تشهد لوستل .

١٠- تعديل اركان - يعنى ټول اركان په كراره تسلى او آرامى سره ادا كول لكه قومه ،جلسه ،ركوع اوسجده په آرامى سره كول يا كومى دوعاګانى چه په لمانځه كى لوستل كيږى په آرامى سره لوستل په بيړه كولو سره ډير خه پاتى شي چه په هغه سره لمونځ فاسيديږي .

١١- په كومو كې چه ورو ورو قرآن لوستل كيږى لكه ماسپښين او مازديګر په هغه كى ورو ورو لوستل او كومو كى چه په زوره زوره قرآن لوستل كيږى لكه سهار،ماښام او ماسختن هغه كى په زوره قرآن لوستل واجب دي .

١٢-دالسلام عليكم په ويلو سره لمونځ ختمول .

۱۳-د وترو په دريم رکعت کې الله اکبر او دوعا قنوت لوستل واجب دي.

۱۴- داخترونو په لمانځونو کی شپږ تکبیرونه ذیات ویل واجب دي .

## دلمانځه سنتونه :

۱- دتکبیر تحریمه لپاره لاسونه پورته کول.

۲- دلاسونو پورته کولو په وخت کې ګوتی پرانیستې او قبلی ته مخامخ کول.

۳- دامام لپاره دهر رکن اداکولو په وخ
ت کې تکبیر ویل .

۴- په اول رکعت کې ثنا سبحان اللهم ویل .

۵- لومړی رکعت کښی تعوذ یعنی اعوذ بالله ویل .

۶- دهر رکعت په شروع کې بسم الله ویل .

۷- دسورة فاتحه نه ورسته آمین ویل .

۸- سړو لره ښی لاس په ګین لاس ایښودل تر نامه لاندې
،اوښځو لره په سینه باندی ایښودل .
۹- رکوع ته دتلو په وخت کې الله اکبر ویل .
۱۰- د رکوع په حالت کې سر دشا سره برابر ول اوپه دواړو
لاسونو سره د دواړو زنګنونو نیول .
۱۱- په رکوع کې دری ځله سبحان ربي الغظیم ویل .
۱۲- قومه یعنی درکوع نه پورته کیدو په وخت کې دامام
دپاره سمع لمن حمده او دمقتدی لپاره ربنا لک الحمد دتنها
ګزار لپاره د دواړو ویل.
۱۳- سجدی ته دتلو په وخت کې اوبیا سجدی نه دپورته کیدو
په وخت کې الله اکبر ویل.
۱۴- سجدی ته دتلو په وخت کې لومړی دواړه ګونډې بیا
دواړه لاسونه او بیا تندی په ځمکه ایښودل.
۱۵- په دواړو سجدو کی دری ځله سبحان ربي الاعلی ویل.

۱۶- دسجدی په وخت کې دلاسونو دواړه پنځی دپوزی څنګو ته ورنونه دګیږی نه جلا اود ځمکې نه لری ساتل او ځنګلی له ورنو نه لری ساتل او همدارنګه د دواړو پښو ولاړ ساتل او دښځو لپاره ورنونه دګیږی سره پیوسته کول اوپښی په ځمکه باندی غوړیدلی ساتل .

۱۷- په جلسه او قعده کې سړیو لره ښی پښه ودرول او چپه پښه غوړول او په هغه کیناستل او ښځو لره دواړه پښی ښی طرف ته ویستل اوپه هغه کیناستل.

۱۸- په تشهد کې د اشهدان لااله الا الله ویلو دشهادت ګوته پورته کول .

۱۹- په قعده اخیره کې دتشهد نه ورسته درود شریف ویل.

۲۰- د درود نه ورسته دُعا لوستل الهم ربنا .

۲۱- لومړی ښی طرف او بیا چپ طرف ته سلام ګرځول.

**[په تشهد کی د شهادت ګوتي پورته کولو مکمل تحقیق]**

**په التحیاتو کې د شهادت د ګوتې پورته کولو مکمل تحقیق**

په قعده کې د ښی لاس د شهادت کوته پورته کول سنت دی

عن ابن عمر؛ أن النبي صلى الله عليه وسلم، كان إذا جلس في الصلاة، وضع يديه على ركبتيه. ورفع إصبعه اليمنى التي تلي الإبهام، فدعا بها.(580 المسلم).

له ابن عمر نه روایت دی چې نبی صلی الله علیه وسلم به په لمانځه کې کیناستلو دواړه لاسونه به یې په ګونډو باندې کیښودل او د ښی لاس سبابه ګوته به یې پورته کوله په هغی سره به یې اشارت کوله .

داسې چې دښي لاس د غټې ګوتی او منځنی کوته حلقه جوړه او نورې ګوتی بندی شي سبابه یا د شهادت ګوته د لااله ویلو په وخت کې پورته کول او الاالله ویلو په وخت ښکته کول .

ددې نه مقصد دادی په زړه کې چې کوم د الله د وحدانیت

شهادت ورکول کیږي هغه په جسم باندې هم د ګوتی په

اشارې سره د وحدانیت شهادت ظاهر شي .

(فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۲ ص ۲۴۶- فقه اسلامې ج۱ ص

۵۸)

په دی اړه د فتاوی المحمودی حنفحي د بشپړ تحقیق فارسی
متن

حکم اشاره سبابه در قعده

چه می‌فرمایند علمای دین در این مسئله:

1-اشاره بالسبابه هنگام تشهد در نماز، سنت است یا مستحب

یا بدعت؟

2-درصورت ثبوت آن روش و هنگام اشاره را همراه با نظر مصلّی به هنگام اشاره و حرکت دادن انگشت سبابه توضیح دهید.

۳-حضرت مجدد الف ثانی رحمه الله اشاره بالسبابه را انکار کرده، و صاحب خلاصه کیدانی اشاره را بدعت قرار داده است.

لطف بفرمایید این مسئله را با دلیل توضیح دهید.

الجواب باسم ملهم الصواب

اشاره بالسبابه سنت است و احادیث زیادی درباره آن وجود دارد و روشهای مختلفی دارد، نزد احناف ابن روش ترجیح دارد که با انگشت ابهام و وسطای دست راست حلقه‌ای درست نموده با انگشت سبابه اشاره کند، هنگام گفتن

لا اله انگشت را بلند کند و هنگام گفتن الا الله آن را پایین

بگذارد.

مصلی هنگام اشاره، انگشت را نگاه کند و حرکت دادن

مکرر آن درست نیست.

در ضمن دلایل ذیل جواب مجدد الف ثانی و صاحب خلاصۀ

کیدانی بیان می‌شود .

## احادیث اشاره سبابه

احادیث اشاره سبابه

1-عَنِ ابْنِ عُمَرَ ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ، كَانَ إِذَا قَعَدَ فِي التَّشَهُّدِ وَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى. وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُمْنَى. وَعَقَدَ ثَلاَثَةً وَخَمْسِينَ. وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ. و في رواية: إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلاَةِ، وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ. وَرَفَعَ إِصْبَعَهُ الْيُمْنَى الَّتِي تَلِي الإِبْهَامَ يدعو بِهَا. وَيَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ بَاسِطُهَا عَلَيْهَا. رواه مسلم.

2. وعن عبد الله بن الزبير قال : كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا قعد يدعو وضع يده اليمنى على فخذه اليمنى ويده اليسرى على فخذه اليسرى وأشار بأصبعه السبابة ووضع إبهامه على أصبعه الوسطى ويلقم كفه اليسرى ركبته . رواه مسلم، مشكوة.

3. «عن وائل به حجر رضي الله عنه عن رسول الله صلي الله عليه و سلم قال: ثم قعد فافترش رجله اليسرى ووضع يده اليسرى على فخذه اليسري و مد مرفقه اليمنى و قبض ثنتين وحلق حلقة ثم رفع إصبعه، فرأيته يحركها، يدعو بها.» رواه ابوداود و الدارمي (ابوداود: 144/1 ط پاكستان)

4. عن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَـــيْرِ رضي الله عنه قال: «أَنَّ النَّبِـــيَّ كَانَ يُشِيرُ بِأُصْبُعِهِ إِذَا دَعَا وَلاَ يُحَرِّكُهَا». رواه ابوداود و النسائي و زاد ابوداود و لايجاوز بصره اشارته. رواه ابوداود و النسائي.

5. عَنْ أَبِـــي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قال: «أَنَّ رَجُلاً كَانَ يَدْعُو بِأَصْبُعَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ: أَحِّدْ أَحِّدْ». رواه الترمذي و النسائي و البيهقي في الدعوات الكبير.

6. عن نافع قال: كان عبد الله بن عمر رضي الله عنه إذا جلس في الصلاة وضع يديه على ركبتيه، وأشار بإصبعه، وأَتْبَعَها بَصَرَهُ، ثم قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلّم: «لَهِيَ أَشَدُّ على الشّيطان مِنَ الحَدِيدِ، ـ يعني : السَّبَّابة ـ». رواه احمد.

روایات دیگری در اینمورد از حضرت سعد، حضرت نمیرخزاعي، حضرت اسامه بن حارث رضي الله عنه منقول است.

## عبارات فقهاء

صاحب الدر المختار بعد از ذکر اقوال مخالفین میفرماید:

« لَكِنَّ الْمُعْتَمَدَ مَا صَحَّحَهُ الشُّرَّاحُ وَلَا سِيَّمَا الْمُتَأَخِّرُونَ كَالْكَمَالِ وَالْحَلَبِيِّ وَالْبَهْنَسِيِّ وَالْبَاقَانِيِّ وَشَيْخِ الْإِسْلَامِ الْجَدِّ وَغَيْرِهِمْ أَنَّهُ يُشِيرُ لِفِعْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ، وَنَسَبُوهُ لِمُحَمَّدٍ وَالْإِمَامِ». (الدر المختار مع الرد: 375/1)

علامه شامي رحمه الله در رد المحتار چنین ميفرماید:

« وَفِي الْمُحِيطِ أَنَّهَا سُنَّةٌ ، يَرْفَعُهَا عِنْدَ النَّفْيِ ، وَيَضَعُهَا عِنْدَ الْإِثْبَاتِ ، وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ ، وَكَثُرَتْ بِهِ الْآثَارُ وَالْأَخْبَارُ فَالْعَمَلُ بِهِ أَوْلَى. ا هـ . فَهُوَ صَرِيحٌ فِي أَنَّ الْمُفْتَى بِهِ هُوَ الْإِشَارَةُ بِالْمُسَبِّحَةِ الخ...».

و بعد از چند سطر ميفرماید:

وَقَالَ فِي الشَّرْحِ الْكَبِيرِ : قَبْضُ الْأَصَابِعِ عِنْدَ الْإِشَارَةِ هُوَ الْمَرْوِيُّ عَنْ مُحَمَّدٍ فِي كَيْفِيَّةِ الْإِشَارَةِ وَكَذَا عَنْ أَبِي يُوسُفَ فِي الْأَمَالِيِّ وَهَذَا فَرْعُ تَصْحِيحِ الْإِشَارَةِ . وَعَنْ كَثِيرٍ مِنْ الْمَشَايِخِ لَا يُشِيرُ أَصْلًا ، وَهُوَ خِلَافُ الدِّرَايَةِ وَالرِّوَايَةِ ، الخ ... و في

العيني عن التحفه الاصح أنها مستحبة و في المحيط أنها سنة».

و في آخر المبحث قال:

«وَهَذَا مَا اعْتَمَدَهُ الْمُتَأَخِّرُونَ لِثُبُوتِهِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْأَحَادِيثِ الصَّحِيحَةِ وَلِصِحَّةِ نَقْلِهِ عَنْ أَئِمَّتِنَا الثَّلَاثَةِ». (رد المحتار: 376/1)

علامه عبدالحی لکهنوی می‌فرماید:

قول صحیح اینست که رفع سبابه سنت است و از احادیث صحیح ثابت است امام محمد رحمه الله در مؤطا می‌فرماید که این قول من و امام ابوحنیفه رحمه الله است. سپس می‌نویسد: ملا علی قاری رحمه الله می‌فرماید:

«لم يعلم من الصحابة و لا من علماء السلف خلاف في هذه المسئلة و لا في جواز هذه الاشارة بل قال به امامنا الاعظم و صاحباه و كذا الامام مالك رحمه الله و الشافعي رحمه الله و احمد رحمه الله و سائر علماء الامصار و الاعصار أجمعين علي ما ورد به صحاح الاخبار و الآثار و قد نص عليه مشايخنا المتقدمون و المتأخرون فلا اعتداد لما عليه المخالفون و لاعبرة لما ترك هذه السنة الأكثرون منمكان ماوراء النهر و اهل خراسان و العراق و الروم و بلاد الهند. انتهي.

كما قال محمد فالقول بعدمها مخالف للرواية و الدراية و رواها في صحيح مسلم من فعله صلي الله عليه و سلم و في المجتبي اذا اتفقت و علم من اصحابنا جميعاً كونها سنة و كذا عن الكوفيين و المدينيين و كثرت الاخبار و الآثار كان العمل بها اولي». (مجموعة الفتاوي: 193/1)

در كتاب اشعة اللمعات می‌فرماید:

«پس آنحضرت صلي الله عليه و سلم اشارت مي‌كرد باين انگشت به وحدانيت حق تعالی». (اشعة اللمعات، باب التشهد: 428/1)

علامه محمد تقی عثمانی حفظه الله در درس ترمذی در ذیل این حدیث: «و رفع اصبعه التی تی الابهام یدعو بها». می‌فرماید:

بنابر حدیث حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه، جمهور سلف و خلف اتفاق نموده‌اند که اشاره بالسبابه مسنون است و بر سنت بودن آن روایات متعددی وجود دارد، البته چون در ظاهر الروایة و متون معتبرة حنفیه ذکر اشاره نه نفیاً آمده و نه اثباتاً، بنابر این بعضی از متاخرین اشاره بالسبابه را غیر مسنون قرار داده، بلکه در «خلاصه کیدانی» آن را بدعت قرار داده است و بعضی دیگر از انتهای تشدد و غلو کار گرفته و در این مسئله بحث نموده‌اند تا این حد که گفته‌اند:

«ما را قول ابوحنیفه باید، و قول رسول الله کافي نیست».
العیاذ بالله

در حالیکه در حقیقت در مسنون بودن اشاره بالسبابه کوچکترین شکی وجود ندارد، زیرا روایات در این مورد به حد شهرت رسیده‌اند.

بخاطر ثابت نبودن اشاره بالسبابه در کتب ظاهر الروایة حنفیه به هیچ وجه نمی‌توانیم عمل بر احادیث صحیحه را ترک کنیم زیرا فوقش می‌توان گفت که عدم ذکر اشاره بالسبابه است و عدم ذکر مستلزم عدم ثبوت نیست. نیز امام محمد رحمه الله حدیث اشاره بالسبابه را ذکر نموده و فرموده است:

«قال محمد: و بصنیع رسول الله رضي الله عنه نأخذ و هو قول ابی حنیفه رحمه الله».

بعد از این تصریح هیچگونه شبهه‌ای باقی نمی‌ماند.

کتاب خلاصه‌کیدانی از کتابهای معتبر فقهی نیست نیز مصنفش غیر معروف است، علامه شامی رحمه الله در شرح عقود رسم المفتی می‌نویسد: تنها مطالعه کردن این چنین کتابی که مولفش مشخص نباشد، درست نیست و فتوی دادن از آن جایز نیست.

در حقیقت تقویت زیادی به منکرین اشاره از فتوای حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله حاصل شده است. ایشان در مکتوبات خویش اشاره بالسبابة را انکار نموده و بر این مفصلا بحث کرده‌اند که خلاصه‌اش اینست که: احادیث اشاره بالسبابه مضطرب المتن هستند زیرا در بیان روشهای اشاره اختلاف شدیدی بچشم می‌خورد؛ و اگر بنابر اضطراب، حنفیه حدیث قلتین را می‌توانند رد کنند پس احادیث اشاره بالسبابه را نیز می‌توانیم رد کنیم.

لیکن حرف انصاف اینست که با وجود جلالت و علو شان حضرت مجدد الف ثانی رحمه الله در این مسئله موضع او تایید نمی‌شود. لان الحق، أن الحق لیس معه فی هذه المسئله. چنانکه حضرت علامه کشمیری رحمه الله، در جواب استدلال حضرت مجدد الف ثانی رحمه الله چنین مي‌فرمایند:

اختلاف روایاتی که در مورد چگونگی اشاره در تشهد است آنرا اضطراب نمی‌توان گفت، زیرا که اضطراب وقتی گفته می‌شود که حدیث یکی باشد و در میان الفاظ آن، چنان اختلاف باشد که امکان تطبیق را ندارد و در این جا چنین نیست زیرا که این اختلاف در الفاظ یک حدیث نیست بلکه اختلاف روایاتی است که از صحابه متعدد مرویست و با وجود اختلاف در این مطلب تمام روایات مشترک‌اند که اشاره فی التشهد مسنون است و بر ثبوت آن مشهور بودن آن

نیز دلالت می‌کند. علاوه از این بر سنت بودن اشاره فی التشهد اجماع است.

روشهای گوناگونی که در روایات آمده باعتبار حالات و زمانهای مختلف است که گاهی آنحضرت صلي الله عليه و سلم به یک روشی اشاره می‌فرمودند و گاهی بگونه‌ای دیگر .

و این اختلاف را در اصطلاح محدثین اضطراب نمی‌نامند و عمل بر تمام روشهائی که در احادیث آمده جایز است، اما راجح نزد ما این است که انگشت ابهام و وسطی را بصورت حلقه در آورده و با سبابه اشاره نماید.

«فیرفعه عند النفی «أي لا اله» و یضعه عند الاثبات «ای الا الله». (درس ترمذي 64/2)

در فتاوی دار العلوم دیوبند در صفحات ذیل در این مورد بحث شده است:

جلد 2/ ص171/172/173/180/188/189/191/192/194/ 201/202/204/206.

روش اشاره

قال فی الدر :

«الصحيح انه يشير بمسبحة وحدها يرفعها عند النفى و يضعها عند الاثبات».(الدر المختار، باب صفة الصلوة)

و فی الرد:

«(قوله: بمسبحة وحدها) فيكره ان يشير بمسبحتين كما في الفتح و غيره».(رد المحتار، باب صفة الصلوة)

و فی الرد:

«قال فی المنية المصلی فان أشار يعقد الخنضر و البنصر و يحلق الوسطی بالابهام الخ...»(رد المحتار، باب صفة الصلوة)

وقت اشاره

علامه عبدالحی لکهنوی رحمه الله در مجموعه الفتاوی می‌فرماید، ملا علی قاری رحمه الله فرموده است:

«قالوا يرفع المسبحة عند قوله لا اله و يضعه عند قوله الا الله لمناسبة الرفع للنفی و ملايمة الوضع للاثبات حتی يطابق القول الفعل في التوحيد و التفريد». (مجموعة الفتاوي: 194/1)

حرکت دادن و حرکت ندادن انگشت سبابه در ابوداود از عبدالله بن زبير رضي الله عنه مروی است که پیامبر اکرم صلي الله عليه و سلم سبابه را حرکت نمی‌داد و روایتهایی که

در آن حرکت دادن سبابه وارد شده است مراد از آن بلند نمودن انگشت از جایش می‌باشد. (مجموعة الفتاوي: 194/1)

نمازگذار هنگام اشاره کجا نگاه کند؟

در ابوداود از عبدالله بن زبیر رضي الله عنه مروی است که:

«کان النبی صلي الله علیه و سلم یشیر باصبعه اذا دعا ولا یحرکها و لایجاوز بصره اشارته». (مجموعه الفتاوی.194/1. قابل یادآوری است که علامه مفتی محمود رحمه الله از شیخ الحدیث مولانا عبدالخالق که اشاره بالسبابه نمی‌کرد پرسید. چرا اشاره نمی‌کنی؟ وی درجواب فرمود مجدد الف ثانی رحمه الله اشاره نکرده، حضرت مفتی صاحب رحمه الله فرمودند: آیا در احادیث ثابت نیست؟ وی گفت: بله!! باز حضرت مفتی صاحب رحمه الله فرمودند: در مقابل حدیث قول حضرت مجدد اعتباری دارد؟ مولانا عبدالخالق سکوت کرد).

فتاوي محمودي حنفي

**د لمانځه ماتونکي او مکروهات**

غير مصنف أغسطس 18th, 2009

دلمانځه مفسیدات (ماتوونکی):

يعنی په کوم شیانو چه لمونځ ماتیږي او دلمانځه بیا کول ضروري وي .

۱- په لمانځه کې قصدًا یا په هیره سره خبرې کول.

۲- په لمانځه کې چاته سلام کول یا په ژبه دسلام ځواب ورکول.

۳- دپرنجی کوونکی دالحمدالله ویلو ځواب په یرحمک الله سره ورکول.

۴- دلمانځه نه بهر کوم څوک دوعا کوي هغه ته په لمانځه کې آمین ویل .

۵- دمرګ ،مرض یا کوم بل بد خبر واوري په هغه باندې انا الله وانا الیه راجعون ویل.

۶- دخوشحالۍ دخبری په اوریدو الحمدالله یا بله کلمه ویل.

۷- دتعجب په خبره باندې سبحان الله یا کومه بله کلمه ویل.

۸- د درد اوتکلیف په وجه آه آه ،اُف کول که دجنت دوزخ یا دقبر غذاب دیاد په وجه وي باک نلری.

۹- په کتاب یا څه لیکل شوي شي باندې نظر لګیدل دهغه په ژبه سره ویل – کچری یواځی په زړه کې دهغه په مطلب پوه شي نو لمونځ نه ماتوي .

۱۰- په کتلو سره قرآن لوستل.

۱۱- دلمانځه څخه بهر قرآن لوستونکی ته فتح ورکول .

۱۲- عمل کثیر – یعنی داسی کار کول چه کتونکی فکر وکړي دا سړی لمونځ نه کوي مثلاً دځان ډیر ګرول یا دجامو برابرول یا په بدن اوجامو ډیر لاس وهل .

۱۳- بغیر له ضرورت څخه په زوره توخی یا دغاړی تازه کول .

۱۴- قصدًا یا په هیره سره څه خوړل یا څه څښل .

۱۵- په قرآنکریم کې داسې غلطي کول چه معنی یی بدله شي .

۱۶- ځلور پنځه قدمه په لمانځه کې تلل.

۱۷- دقبلې طرف نه قصداً بلی خوا ته کتل یا بغیر له کوم غذر څخه دقبلې څخه دسینی ګرځول.

۱۸- څلورمه حصه ستر دومره ساعت ښکاریدل چه په څومره وخت کې سړی یوه رکوع یا سجده کولی شي.

۱۹- دخدای (ج) نه د داسې شی غوښتل چه هغه له بندګانو هم غوښتلی شی موجود دضرورت شی.

۲۰- د درد یا مصیبت له وجی داسې ژړل چه په آواز کې یې کلیمات را پیداشي مثلاً ای الله !.

۲۱- دجنازی لمانځه نه علاوه په نورو لمونځونو کې په زوره خندل.

۲۲- د امام نه مخکې پوره رکوع یا پوره سجده کول یا دهغه نه مخکې کیدل.

۲۳- په لمانځه کې دسړی سره دښځی یوځای دریدل تر دومره وخته چه سړی کولی شی یوه سجده یا رکوع وکړي .

۲۴- دتیمم کوونکي لپاره د ابو پیداکیدل.

## دلمانځه مکروهات :

يعنی هغه څيزونه چه لمونځ بالکل نه وربانډی ماتيږي بلکی کراهيت پيداکوي لمانځه ته زيان رسوي د لمانځه ثواب کموي .

۱- چادر داغوستلو پر ځای پر دواړو اړو اچول يا لستونی داغوستلو پرځای خالي ځړول.

۲- په خپل بدن اوجامو لاس وهل .

۳- په خوله کې داسی شی ايښودل چه دهغه په وجه سره دقرآن په لوستو کې تکليف وي.

۴- سرتور سر لمونځ کول خو که دعاجزی په وجه وي لمونځ نه مکروه کوي ،خو د نن زمان سرت ور سرونه عاجزی نه ده بلکی يو فيشن يا عصريتوب دی نو ښه به داوي چه سرتور سر لمونځ ونه شي .

۵- ګوتې ختېل يا ديوه لاس کوتې په بل لاس کې ننستل.

۶- بی ضرورته په ملا يا تشو لاسونه ايښودل .

۷- په لمانځه کې یو خوا بل خوا ته کتل.

۸- د داسې سړی طرف ته لمونځ کول چه هغه سړی مخامخ ده ته ناست وي .

۹- قصدًا اوسویلی ایستل یا دهغه دبندولو کوښښ نه کول .

۱۰- په صف کې ځای وي خو ځانته دریدل.

۱۱- په داسې جامو کې لمونځ کول چه په هغې باندی دکوم ځاندار تصویر وي.

۱۲- ځادر یا بل شی دځان نه داسی تاوول چه دلاس ویستل له هغه ګران وي .

۱۳- ارګمي کول.

۱۴- دپګړی یا لونګی په ول باندې سجده کول.

۱۵- دوهم رکعت دلومړی رکعت نه ذیات اوږدول – یعنی چه په لومړی رکعت کې دری آیته ووایي اودوهم بیا مثلاً شپږ آیته قرآن ووایي .

۱۶- په کوم خاص لمونځ کې خاص سورة مقررول.

۱۷- دقرآن دترتیب نه خلاف قرآن لوستل مثلاْ په لومړی رکعت کې قل هوالله ووايي خو په دوهم رکعت بيا الم ترکيف سورة ووايي .

۱۸- داوداسه په تنګوالی.

۱۹- چه سړی ډیر وږی وي او ډوډی تیاره وي نوبنه داده چه لومړی ډوډی وخوړل شي ورسته لمونځ وشي.

۲۰- په لمانځه کې دخزندؤ وژل لکه میږی ،مچ او نور خو که سړی چیچی نو هغه دی ونیسی بیا یې دي خوشې کړي .

۲۱- په سجده کې دواړه پښې له ځمکې پورته کول چه دځنو فقهاؤ په نزد پدی سره لمونځ فاسیدیږی.

## په کومو حالاتو کی باید لمونځ مات کړ شي

غير مصنف أغسطس 200918 th,

په کومو حالاتو کی باید لمونځ مات کړ شي .

اوس هغه صورتونه چه پخپله لمونځ کوونکی ته لمونځ ماتول ضرور دي که لمونځ مات نه کړي نو په بعضی صورتونو

کې ډیره ذیاته ګناه ده اوپه بعضی صورتونو کې کمه ګناه ده ،هغه صورتونه په لاندی ډول دي .

۱- دکوم مضر ځناور ویره وي مثلاً مار یا لړم مخې ته راغی – نولمونځ ماتول پکار دي ترڅو هغه مړکړ شي اوضرر یی دفع شي یا دلمونځ کوونکي په جامو کې لړم یا بل مضر حشره ننوځی او ددی ویره وي چه که سړی وچیچی سخت نقصان او تکلیف به تری پیدا شي نو پدی صورتونو کې لمونځ ماتولی شي .

۲- دلمونځ کولو په وخت کې د ریل ،طیارې او یا کومې بلې سورلۍ دتلو ویره وي چه په هغه سورلۍ کې سامان او اهل عیال وي یا دهغه په تلو سره ده ته سخت تاوان او تکلیف رسیږي نو لمونځ ماتولی شي .

۳- په لمانځه کې دکومې مریضۍ په وجه لویې یا وړې متیازې دومره سړی تنګ کړي چه نور یې برداشت سخت وي .

۴- دکوم کس دتباهی او هلاکت د بچ کولو لپاره لمونځ ماتول فرض دي که مات نشي لمونځ کوونکی دسختی ګناه مرتکب ګرځی – مثلاً یو ړوند په لاره روان دی مخی ته یی لویه کنده یا کوهی راغی که رهنمایی ورته ونه شي ور وبه لویږي یا یو کس په ابو کې ډوبیږی یا چا اور اخیستی وي یا یې غل یا دوښمن په سختنه بی رحمی سره وهي – نوپدی ډول صورتونو کې دلمونځ ماتول ضرور دي او دهغه کس بچ کول ضروري د ي.

۵- که مور،پلار ،نیا او نیکه که دمور له طرفه وي او که دپلار دڅه تکلیف له وجی چغی وهي نو لمونځ دې مات کړي هغوی ته د ورشي .

مثلاً هغوی ته کوم درد ورغلی وي ،یا هغه ولویږي ،یا بولو کولو ته ځي اوبل څوک نه وي ،څوکه بغیر له کوم ضرورته عادتاً ناری وهی نو بیا دلمانځه ماتول ضرور ندي .

۶- دسړی دڅه سامان یا پایزار د ورکیدو ویره وي چه غل به یې یوسی نو لمونځ دی مات کړي سامان د پر ځای کړی خو ښه داده چه دلمانځه مخکې خپل سامان پرځای کړي ،اویا داسې وشي چه دکور پشئ یا سپی راشی او دخوړو یا غوړیود دیګ چپه کیدو یا نور نقصان وېږه وي .

## د سهوي سجده

غير مصنف أغسطس th, 200918

دسهوې سجده :

دسهوي معنی هیریدل دي بنی آدم چه کله نیک کار کوي شیطان هغه همیشه په هیره اوغفلت کې اچوي شیطان ترټولو ډیر دبنده په سجده کولوسره ذلیل کیږی اوسخت خفګان ښکاره کوي .

څنګه چه لمونځ کې سجده وي نو شیطان همیشه کوښښ کوي چه لمونځ کونکی بې توجه اوبې فکره کړی .

دشیطان دذلت لپاره بیا هم په هیره او بې فکري کې سجده سهوه لازمه شوي ده .

هغه صورتونه چه سجده سهوه لازمیږي .

۱- دلمانځه له واجباتو څخه په هیره سره کوم واجب پاتې شي لکه الحمدلله ،تشهد یا جلسه .

۲- دکوم واجب په اداکولوکې تاخیریاځنډ راشي (دومره ځنډ چه په ځومره وخت کې یوه رکوع یا سجده کیدای شي ) که په هیره سره وي یا څه فکر کولو لکه دالحمدلله نه ورسته د

سورت په ضم یا پیوسته کولو کې سړی خاموش ودریږی
دڅه ځنډ ورسته سورت شروع کړي .
۳- دکوم فرض په اداکولو کې تاخیر راشي مثلاً دسورت نه
ورسته ځنډ وشي ورسته له څه ځنډ نه رکوع وکړي .
۴- کوم فرض دوه ځلي ادا شي مثلاً په یوه ځل دوې رکوع
وکړي .
۵- دڅه واجبو کیفیت بدل شي :
الیف ) په کومو لمونځوکې چه په خفیه سره سورت لوستل
کیږي هغه دامام له خوا په زوره وویل شي یا د ورو ویلو
پرځاي په زوره وویل شي که پدي سلسله کې پوره سورت
وویل شي یا دومره چه په څومره وخت یوه رکوع یا یوه
سجده کیدای شي نوپدی صورت سجده سهوه لازمیږي .
ب) دفرضو په اولو دواړو رکعتو کې یا یورکعت کې سورت
هیر شي نوکه څلور رکعتي لمونځ وي نوپه آخري دوو
رکعتونو کې یې ویل پکار دي او ددي ترتیب بدلیدو په وجه
سجده سهوه لازمیږي .

دسجده سهوي کولو طریقه :

په آخري ناسته کې د تشهد نه ورسته به یواځي ښی طرف ته
سلام ګرځول او ورسته دوي سجدي کول او بیا تشهد،درد او
دُعا ویل او دسلام ګرځول .

## په لمانځه کې خشوع

غير مصنف أغسطس th, 200918

خشوع

دلمانځه طريقه اودلمانځه فرائض ،واجبات،سنت ،مكروهات اومفسدات بيان شول چه دغه ټول احكام دلمانځه په ظاهري شكل پورې اړه لري . چه كله دغه احكام ټول صحى آداشي نو لمونځ به په ظاهر سره درست وي .

لكن دلمانځه دظاهري صحت سره دلمانځه باطني صحت هم ضروري دى چه هغه په زړه او دوماغ پوري اړه لري ، چه ترخپله وسه د دزړه توجه بلى خواته نشي كه په لمانځه كې دزړه توجه بل لوری ته شي نو دالمونځ به بې روحه لمونځ وي كه كله په هيره سره توجه لږ بلى خواته شي نو خير .

دخشوع معنى : په لغت كې ټيټيدل ،عاجزى او سكون ته وايي اوپه شريعت كې زړه اودوماغ په پوره طورسره دخداى طرف ته متوجه كول اوپه هغې كې دعاجزئ اوبندګئ كيفيت پيداكولو ته خشوع وائى .

نو هركله چه سړی لمانځه ته پورته شي اوتوجه يې د خپل رب (ج) طرف ته وي نوپر بدن باندې دهغې هم تاثير پريوځى يعنى دوجود په اندامو كې سكون راځى بيا يواو بل طرف ته نه ګوري په جاموااوبدن به لاس نه وهي اوتوجه به يې خپل لمانځه ته وي نو ورسته به ضرور ټول احكام به په ښه شان او آرامۍ سره ادا كوي .

وَاسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلاَّ عَلَى الْخَاشِعِينَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلاَقُو رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ (البقره 45-46).
ژباړه : اومدد وغواړی (په هره سختی کې له الله ) په صبر اولمانځه سره اویقیناًدا لمونځ خامخا ډیر دروند دی مګر (نه دی دروند) په عاجزی کوونکو(خوند اخیستونکو له طاعته ) هغوکسان چه یقین کوی چه بیشکه دوی مخامخ کیدونکی دی له پروردګار خپل سره اوپه تحقیق دوی هم ده ته (په اخرت کې ) بیرته ورتلونکی دی
یعنی لمونځ دټولوحقوقوسره په ښه شان او دزړه په حضور ډیر دروند دی مګر دا دروند کار یوازی په هغه چا آسان دی چه عاجزی کوی اوله الله تعالی نه ویریږی او د دوی خیال اوفکر په همدی لوری وي چه مونږ به خامخاورشو او دهغه په لوری ورتلونکی یو.
هغه کسان چه په لمانځه کې خشوع کوي دکامیابی زیری ورکړشوي دي .
قوله تعالی :قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ **1** الَّذِينَ هُمْ فِي صَلاَتِهِمْ خَاشِعُونَ
اوهمدارنګه هغه کسان کامیاب دي چه دخپل لمانځه حفاظت کوي یعنی تل پنځه وخته لمونځ کوي په خپل وخت کې سره له ټولوحقوقو.
**قوله تعالی:** وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ **9**
داسې نه چه کله په دنیاوی کارونو کې مشغول شي لمونځ ناوخته کړي .

ضروري يادونه :
دلمانځه دصحت لومړی شرط علم دي دلمانځه دکولوطريقه او دهغه دټولو احکامو زده کړه فرض ده .
څوک چه دلمانځه له احکامو ناخبره وي هغه به څرنګه دلمانځه په صحت اوخرابی پوه شي؟ .

## د مسافر او ناروغ احکام

غير مصنف أغسطس 200929 th,
مسافر

په شريعت کې هغه چاته مسافر ويل کيږي چه دخپل کور نه

داسې ځای ته دتلو يا سفر اراده وکړي چې دده له کور څخه

۴۸ ميله يا ۷۷ کلومتره لری وي (ردالمختار )

کچیری په موټر ،طیاره او ریل کې که همدومره یعنی ۷۷

کلومتره لاره وي اګر که په څو ساعتونو کې رسیږی بیا هم د

مسافر حکم لري (عالمګیری ) .

## د مسافر دلمانځه حکم :

د مسافر لپاره الله ج او رسول الله ص په لمانځه کې دا اسانتیا

راوستلی چې که د څلورو رکعتونوفرض لمونځ وي دوه

رکعته به ادا کوي او کوم چې دوه رکعته ده هغه به په خپل

حال وي او سنتو په کولو کې څه پابندې نشته که موقع وه

اداکوي به یې اونه وه پریږدي به یې .

البته د وترو او سهار سنتو په باب په احاديثو کې ډېر ټنګار

راغلی هغه به اداکوي .

## مسافر کله مقيم کيږي :

مسافر به پوره لمونځ هغه وخت کوي چې کله په خير خپل

کور ته راورسيږي يا يې د سفر په ځای کې د ۱۵ ورځو

پاتی کيدو يا تر هغه ذيات وخت تيرولو اراده کړي وي ، که

يې نيت تر پنځلسو ۱۵ ورځو کم وي نو بيا قصر (مسافرانه )

لمونځ به کوي .

## په سورلی باندې د لمونځ حکم :

که سفر په موټر ، طیاره ، ریل وغیره کې وي او ده ته د

کوزیدو موعقع نه پیدا کیږي یا په کوزیدو سره دا ویره وي

چې سامان به مې ورک شي یا دا ویره وي چې سورلی به

رانه ولاړه شي نو پدی حالت کې به په سورلی کې لمونځ

کوي .

---

ناروغ

تر څو پورې چې دسړي هوش او حواس پر ځای وي تر

هغی پوری لمونځ په هیڅ شان نه معاف کیږي .

۱- که ناروغ په ولاړه لمونځ نشي کولای یا د دریدلو توان

نلری یا یې سر ګرځې یا د لویدو ویره وي یا په ودریدو کې د

مرض د سخت درد او ذیاتوالی ویره وي نو لمونځ به په

ناسته کوي .

۲- که په ناسته سره رکوع او سجده نشي کولای نو اشاره

سره به لمونځ کوي .

۳- که دې ناستی طاقت نلري نو په ملاستی به لمونځ کوي

چې د ملاستی لمونځ څو صورتونه لري ۱- که امکان لری

مخ پر قبله به بالښت یا بل شی ته تکیه کوي او دسر په اشاره

به رکوع او سجده کوي ۲- که داسې هم ممکن نه وي نو په

ښی اړخ مخ پر قبله د سر په اشاره به لمونځ کوي ۳- که

داسې هم ممکن نه وي نو سم به په بستره کې څملی یوازی

سر به قبلی طرف ته کوي او دسر په اشاره به لمونځ کوي ،

دسرپه اشاره کې به د رکوع په نسبت سجدي ته لږ ذیاته

اشاره ورکوي .

او که په ملاستی او اشاره یې طاقت نلري که دغه حالت د

پنځو لمونځونو پورې دوام وکړي نو چې کله ښه شو قضایې

به راوړی او که تر دې يې ذيات دوام وکړ نو بيا لمونځ ورته

معاف دي قضايې هم نشته .

که ناروغ ته اوبه ضرر رسوي يايې د ابو په استعمال مرض

ذياتيږي نو تيمم به وهی

که د کوم مرض له وجی په ابو استنجا سخت ضرر رسوي

نو په لوټو او قاغذ تشناب به استنجاء کوي .

## [د اختر لمونځ او ځنی نور احکام]

غير مصنف أغسطس 27th, 2011

**د اخترونو دلمانځه حکم :**

پرچا چې د جُمعی لمونځ فرض وي په هغه د اخترونو لمونځ واجب دی .

## د اخترونو دلمانځه وخت :

د اخترونو د لمانځه وخت د لمر ختلو (په کوم وخت کې چې لمونځ روا کيږي) څخه د د لمر تر زوال پورې دی .

## د اخترونو دلمانځه طريقه :

د دواړو اخترونو د لمانځه طريقه داده چې لومړی نيت کول بيا به امام په اوچت آواز او مقتديان په ورو سره تکبير ووايي لاسونه به غوږونه ته پورته کوي بيا به امام او مقتديان خپل لاسونه دې نامه لاندې وتړي په ورو سره به ثنا ّ)سبحانک اللهم ) ووايي د ثنا نه پس به امام په اوچت آواز او مقتديان په ورو سره دری تکبير ووايي داسې چې د هر ځل تکبير ويلو په وخت کې به لاسونه غوږونو ته پورته کوي او بيا يې دې ښکته کوي ، د دريم ځل تکبير وروسته به امام او مقتديان لاسونه په نامه وتړی بيا به اعوذ بالله او بسم الله ويل کيږي بيا به امام په اوچت آواز الحمدالله او قرائت ووايی بيا به رکوع او سجده وکړي دوهم رکعت ته به پورته شي بسم الله ويل کيږی امام به فاتحه او قرآيت په اوچت آواز وايې کله چې سورت ختم شی د رکوع نه مخکې به د لومړي رکعت په څير دری ځله تکبيرونه ووايي بيا به د الله اکبر په ويلو رکوع ته لاړ شي او لمونځ به د نورو لمونځونو په څير ختم کړي ښه به دا وي چې دعا ونه کړي خطبه شروع کړي خو

که دعا وکړی هم باک نلری امام به دوې خطبی ووايې او مقتديان به په خاموشی سره هغه اوري .

**د اخترونو د لمانځه مسائل :**

۱- د اخترونو دلمانځه د پاره آذان او اقامت نشته .

۲- په جُمعه کې خطبه د لمانځه نه مخکی ويل کيږي د اختر په لمانځه کې د لمانځه نه ورسته .

۳- که د جُمعی لمونځ قضا شي نو د ماسپښين لمونځ به کوي خو که د اخترونو لمونځ قضا شي څه نشته که ډير لمونځ کونکی پاتی وي نو ځانته لمونځ کولای شي .

**د اخترونود ورځی سنت او مستحب کارونه :**

۱- غسل کول او مسواک وهل .

۲- ښې جامی اغوستل .

۳- خوشبوئی لګول .

۴- په عيدګاه کې لمونځ کول (د اخترونو لمونځ خو په جومات کې کيدای شي خو په عيدګاه کې يې کول سنت دي )

۵- سهار وختی پاڅيدل .

۶- عيدګا ته وختی ځان رسول .

۷- په لوی اختر کې د لمانځه نه وروسته قرباني کول .

۸- عیدګاه ته د تلو مخکې د څه شی نه خوړل او له لمانځه پس د خپلې قربانۍ نه څه خوړل او یا که د قربانۍ غوښه نه وي تیاره شوې بل څه خوړل مطلب دا چې د لمانځه وروسته خوړل د نبی کریم صلی الله علیه وسلم عادت مبارک ؤ.

۹- عیدګاه ته له یوی لاری ته تلل او پر بله لار بیرته راتلل .

۱۰ په کوچني اختر کې په لاره ورو ورو آرام تکبیر ویل — الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر و لله الحمد او په لوی اختر کې په اوچت آواز لوستل .

د اختر په ورځ د مړی غمرازی یا فاتحه خاني کول بدعت دی همدارنګه د اختر ورځ د زیات د پاره غوره کول بدعت دی .

ان لاین اسلامې لاربنود

**[د جمعی لمونځ د اسلام ستره نښنه]**

غير مصنف أغسطس st, 200931

د جُمعی لمونځ د اسلام ستره نښنه

د جُمعی لمونځ په هر عاقل ،بالغ ،آزاد ،مقيم او تندرست

مسلمان فرض دی ، اوپه نابالغو،ناروغو ،ړندو ، مسافرو او

ښځو باندې فرض ندی ، لکن که ويې کړي نو د دوی د

جُمعی لمونځ به وشي په دغه ورځ بيا د ماپښين لمونځ ته

ضرورت نشته .

دجُمعی لمونځ د اسلام له سترو شعائرو څخه دی ددی له

فرضيت نه منکر کافر دی او څوک يې چې له څه غدر

يوازی د سستی او بې پروايې له وجی دا لمونځ پريږدي

فاسق دی .

د قرآنکریم حکم دی :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِي لِلصَّلاَةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ (الجمة ٩ )َ.

مؤمنانو! کله چې د جُمعی په ورځ د لمانځه لپاره اذان وشي نو دخدای ج د یاد لپاره په بیړه ورځی او اخیستل او خرڅول پریږدی .

پدی لمانځه کې د بیړی ورتګ حکم ځکه دی چې دا لمونځ بله جماعت څخه نه ادا کیږي او بل دا چې د نورو لمونځونو په شان قضایې هم نلري .

دجُمعی په لمانځه په احادیثو هم ډیر تاقید راغلی دی :

ځوک چې بله څه غذر او ضرورته څخه د جُمعی لمونځ

پریږدي د هغه نوم به د منافق په حیث سره په کتاب د لوح

المحفوظ کې ولیکل شي چې نه یې لیک له منځه تلی شي او

نه هم بدلیدلای شي . (مشکوة باب جمعه ).

چاچې دجُمعی اذان واوریده او بیا لمونځ ته رانغی ، بیا یې د

دوهمې جُمعی آذان واورید او لمانځه ته رانغی تر دریو جُمعو

یې پر له پسی همداسې وکول ، دهغه په زړه مهر وهل کیږي

او زړه يې د منافق زړه ګرځيدلی شي ( چې بيا به د حق

خبره ،وعظ او نصيحت پر ده کوم اثر نه کوي ) (طبرانی ).

## دجُمعی لمانځه د قيام د صحت شرطونه :

دجُمعی لمانځ د ادا کولو لپاره لاندې شرطونه دي که دغه

شرطونه پوره نه وي د جمعی لمونځ نه صحيح کيږي .

١- جامع ښار :

د جامع ښار يا مصر په باره کې په قرآنکريم او سنتو کې کوم

حد ندې ټاکل شوي نو ځکه د هغه په څرګندوالې کې د فقهاؤ

تر منځ اختلاف دی .

- جامع ښار :

د جامع ښار یا مصر په باره کې په قرآنکریم او سنتو کې کوم حد ندې ټاکل شوي نو ځکه د هغه په څرګندوالي کې د فقهاؤ تر منځ اختلاف دی .

یو تعریف یې دادی : مصر جامع هغه ځای دی چې هلته بازار وي حاکم موجود وي چې د خلکو فیصلی وکړي

بل : مصر جامع هغه ښار دی چې د هر کسب او حربې واله کسان په خپل کسب او هنر سره ګزاره کولی شي .

خومولنا مودودی پدې اړه لیکي ( ترکومه ځایه چې ما پر احکامو غور کړی دی لدی نه ماته د شریعت منشأ دا ښکاري چې د جمعی لمونځ په کوچنیو کوچنیو کلیو جلا جلا ادا کول

د جمعی د مقاصدو او اهدافو لپاره ګټور ندي پدې خاطر مصر جامع ټاکل شوی دی مصر جامع په څپله دې خبرې ته اشاره کوي چې لدې څنې مراد داسې کوم لوی کلی یا محل چې واړو واړو کلیو ړلې را ټولې او یو جامع الجماعت جوړ کړي ددی لپاره بازار یا د اهتوګنو شمیره هیڅ یې په مصر جامع کې کوم دخل نشته .بل تعریف یې داسې دی :

د وخت حاکم چې کوم محل مصر جامع وبولی او هلته خلکو ته د جمعی د لمانځه کولو حکم وکړي نو مصر جامع بلل کیږي (فتح الباري )

۲- د ماسپښین وخت : د ماسپښین د وخت نه مخکې او ورسته دجُمعی لمونځ نه صحی کیږي .

۳- خطبه : د جُمعی د لمانځه د وخت په دننه کې د جمعې د لمانځه نه مخکې خطبه ویل شرط دی

۴- جماعت : دجُمعی د لمانځه لپاره جماعت یا جَمعه کول شرط دی چې کم نه کم به دری کسان وي .

۵- عامه اجازه (د جمعی د لمانځه لپاره مسلمان واکمن شرط دی )

د جُمعی لمونځ قایمولو لپاره به پخپله واکمن یا د هغه نماینده وي د جُمعی لمونځ به قایموي .

هغه هیوادونه چې حکومت یې د نا مسلمانو په لاس کې وي نو هلته به مسلمانان په شریکه په خپله خوښه امام دروي او د جُمعی لمونځ به کوي چې د اسلام شعائر لوړ وي .

## د جَمعی د لمانځه فضیلت

غیر مصنف أغسطس 20th, 2009

**دجَمعی د لمانځه فضیلت**

رسول الله (ص) فرمایلي: (( بشّر المشائین في الظلم إلی المساجد بالنور التامّ یوم القیامة)) (ابؤداود ، ابن ماجه ).

هغو کسانو ته چه په تیاره کې جوماتونو ته ځي زیری ورکړي په کامل نور سره په ورځ د قیامت (دغه جومات ته تګ به په ورځ د قیامت هغوی ته نور وګرځي).

له عثمان بن عفان (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایل: ((من صلّی العشاء في جماعة فکأنّما قام نصف اللیل، ومن صلّی الصبح في جماعة فکأنّما صلّی اللیل کلّه)) (مسلم 656 )

ځوک چه د نماسختن  لمونځ په جَمع ادا کړي داسې دی لکه

تر نمې شپې یې چه لمونځونه کړي وي اوځوک چې د سهار

لمونځ په جَمع ادا کړي داسې دی لکه ټوله شپه یې چې په

لمونځ کولو سبا کړي وي  ( د بیګا او سبا لمونځ په جمع ادا

کولو ثواب د ټولې شپې له عبادت سره مساوي دی ) .

او أبوهریـره  (رض)  روایت کوي چه رسول الله      (ص)

فرمایلي: (( لو یعلمون ما في العتمة والصبح لأتوهما ولو

حبواً))(متفق علیه ) .

که خلک پوهیدلی چې د بیګاو سبا په لمونځ کولو کې

ځومره ثواب دی دوی به جومات تللی اګر که په خاپوړو هم

وای .

عن أَنَسِ بنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

- "مَنْ صَلَّى للهِ أَربَعينَ يَومَاً في جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبيرَةَ الأُوَّلى كُتِبَ لَهُ بَرَاءَتَانِ: بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ، وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ". الترمذي

چا چې څلويښت ورځې په اخلاص داسې لمونځ وکړ چې تکبير اُولی ترې فوت نه شي هغه ته به دوه برائت (خلاصون يا نجات ) ورکړشي يو د دوزخ څخه او له نفاق څخه .

صَلاةُ الْجَمِيعِ تَزِيدُ عَلَى صَلاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَصَلاتِهِ فِي سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً

(بخارى ٢٩٥ ) .

دجَمعى لمونځ د كور او بازار په لمانځه ٢٥ درجې غوره دى

**دجماعت لمونځ واحب دى**

دجَمعى لمونځ واجب دى دليل لاندې قرآني آيتونه دي .

متعال خدای ج فرمايي (وأقيموا الصلاة وآتوا الزكاة واركعوا مع الراكعين) (سوره البقره آيه 43 )

ژباړه : لمونځ قايموئ او زکات ورکوئ او رکوع کوی سره له رکوع کونکو (سره له لمونځ کو نکو )

تشريح : دغه آيت د جَمعې په وجوب دلالت کوي ځکه (واركعوا مع الراكعين ) نه که مطلب د لمونځ کول وي نو هغه په (وأقيموا الصلاة ) کې ذکر شو نو په آخر د آيت کې(واركعوا مع الراكعين ) نه راتلو ځکه چې اقامت په اول کې راغلی دی .

متعال خدای ج فرمايي : (وإذا كنت فيهم فأقمت لهم الصلاة فلتقم طائفة منهم معك وليأخذوا حذرهم وأسلحتهم فإذا سجدوا

فليكونوا من ورائكم ولتأت طائفة أخرى لم ي    صلوا فليصلوا

معك وليأخذوا حذرهم وأسلحتهم) (سوره النساء آيه 102) .

ژباړه : (ای پیغمبره ! ) کله چې د مسلمانانو په منځ کې او

دجنګ په حالت کې په لمانځه ولاړ وی نو پکار ده چه له

هغوی څخه یوه ډله له تا سره ودریږي او وادې خلي         (دا

لمونځ کونکي ) وسلې خپلې نو کله چې   هغوی سجده وکړي

نو شي دوی له وروسته ستاسې او رادې شي بله ډله چې

لمونځ يې نه وي کړی تا سره دې لمونځ وکړي او وادې خلي

وسلې خپلې ( تيارسئ دې اوسي ) .

په دې آيت شريف کې الله ج رسول الله ص ته امر کوي چې

رسول الله ته امر کول دلالت کوي په امر ده ته او دده امت

ته .

له أبی هريره (رض) نه روايت دی : ((عن أبي هريرة؛ قال:

أتى النبي صلى الله عليه وسلم رجل أعمى. فقال: يا رسول الله!

إنه ليس لي قائد يقودني إلى المسجد. فسأل رسول الله صلى الله

عليه وسلم أن يرخص له فيصلي في بيته . فرخص له. فلما

ولي دعاه فقال "هل تسمع النداء بال صلاة؟" فقال: نعم. قال

"فأجب".)) () المسلم باب يجب إتيان المسجد على من سمع

النداء() .

يو ړوند سړی رسول (ص) ته راغلی ويې ويل : څوک نه

لرم چې جومات ته مې ورسوي او له آنحضرت ص نه اجازه

وغوښتله تر څو په کور کې لمونځ وکړي ، آنحضرت ص

هغه ته اجازه ورکړه کله چې هغه سړ ی څه لاړو هغه ته يې

غږ وکړ او ويې فرمايل : آيا آذان اوري ؟ ځواب يې ورکړ

هو ، ويېِ فرمايل نو آذان ته به څواب ورکوئ ( لمونځ په جَمع ادا کړه ) .

لقد هممت أن آمر فتيتي فيجمعوا حزماً من حطب، ثم آتى قوماً يصلون في بيوتهم ليست بهم علَّة فأحرِّقها عليهم (549 ابوداود )

څما زړه غواړی چه يو څو ځوانانو ته ووايم چه ډير بوټی راجمع کړی رايی وړی بيا زه هغی خلکو ته ورشم چه بی غذره په کورونو کی لمونځ کوی دهغوی کورونه وسوزوم.

د جماعت د لمانځه په تأقيد کې ډير احاديث راغلی دی خو دلته په همدې احاديثو اکتفا کوو.

حضرت عمر فاروق خپلو امراء او واليانو ته وليکل : (إنَّ أهم أمركم عندي الصلاة فمن حفظها فقد حفظ دينه، ومن

ضيّعها فهو لما سواها أضيع، ومن المحافظة عليها أداؤها

جماعة فى المسجد،

وفي)[(] ابن القيم الجوزية ص 403 - 404[)] .

ترتولو مهم د تاسې له أمور څخه ماته لمونځ دی ،پس هرچا

چې د هغه حفاظت وکړ هغې خپل دين وساتلو او څوک چې

هغه ضايع کړي هغه ته د نورو شيانو ضايع کول آسان دي او

د هغه محافظت دادی چې لمونځ په جمع په جومات کې ادا شي

.

پدې باره کې د احنافو نظر :

دجَمعې لمونځ واجب دی او تارک يې بغير له عذر څخه

فاسق او ګناه کار دی (فتاوی المحمودي حنفي ) .

د مذهب حنفي دؤ سترو کتابونو نظر :

ان صلوة الجماعة واجبة على الراجح فى المذهب أو سنّة مؤكدة فى حكم الواجب كما فى البحر و صرحوا بفسق تاركها و تعزيره و أنه يأثم". (رد المحتار: 337/1، البحر الرائق: 341/1)

## هغه عذرونه چې سړی کولای شي د جماعت لمونځ ترک کړي

۱- چې کله سخت باران وریږي چترۍ او نورڅه هم نه وي ددی ویره وي چې که جومات ته لاړ شم جامې به مې تولې لمدې شي .

۲- کوم ځای چه سخته یخني وي دا حکم د هغه ځایونو دی چیرې چي زیاتې واورې اوریږي او تګ راتګ سخت وي

۳- دلمانځه په وخت کې سخته سیلۍ راشي .

۴- بېسفر روانيدل وي د سورلۍ د تلو ويره وي .

۵- د دوښمن ويره وي د ځان ،مال اوکور.

۶- معذور وي که په آسانۍ سره جومات تلی شي نو جومات

ته تلل پکار دي .

۷- دتشواوډکومتيازو سخت نيولی وي او دجماعت وخت وي

.

۸- ډوډی پوره تياره وي وری وي دا خيال يې وي که لمونځ

ته لاړ شم فکربه مې په ډوډی کې شي .

۹- مريضی : چې جومات نشي تلای يا يې په تګ سره د

مرض د سختيدو ويره وي .

**داامام انتخاب**

۱- اول هغه کس د امامت وړ دی چې علم دین ولري او عمل پرې کوي .

۲- که عالم نه وي بيا هغه کس چې قرآن صحي لوستلای شي .

۳- بيا پرهيزګاره سړی .

۴- بيا ه غه کس چې عمر يې زيات وي .

فقه اسلامې زياتوي :

۵- بيا هغه کس چې تر ټولو نه يې اخلاق ښه وي .

۶- بيا هغه کس چې د وقار واله او معزز معلوميږي .

فقه مُيسر :

زياتوي ورسته له سن هغه ځوک د امامت وړ دی چې

مقتديان يا اهل محل انتخاب کړی وي بيا که خلکو په منځ کې

اختلاف پيدا شو بيا اکثريتو انخاب کړی وي .

د لاندې خلکو امامت مکروه دی يا په لاندی صورتونو کې

جماعت مکروه دی .

١- بدعتي ٢- فاسق چه ګناوي کوي او قرآن او حديث سم

عمل نه کوي ٣- جاهل ۴- ړوند که داسې ړوند وي چې په

پاکۍ او صفايی پوهيږي نو بيا باک نه لري ۵- حرام خور

وي ،سودخور،رشوت خور او داسې نور حرام .

فقه مُيسر زياتوي :

د ښځو موجوديت په جماعت کې په نن عصر کې چې د فتنی

ويره ده .

د لمانځه اوږدل د سنت اندازی څخه .

**دامامت شرایط :**

۱- امام به نر وي ښځه د نرینوو امامت نشي کولای .

۲- امام به بالغ وي ۳- امام عاقل وي لیونـی به نه وي ۴- امام

په هغه قرآیت چې د لمانځه د صحت لپاره ضرور وي قادر

وي .۵- د امام څخه کوم د لمانځه شرط نه وي پاتی مثلاً بې

اودسه بې ستره نه وي .

۶- امام معذور نه وي مثلاً خونریزي ، سلسل البول او دباد

جایری توب یا د متیازو تلل .

۷- امام صحي لسان وي توتله نه وي چې حروف په صحي توګه نشي ادا کولای .

**دجومات آداب**

غير مصنف مايو rd, 20103

دجومات آداب

۱- جومات ته دننوتلو په وخت کې باید اول ښئ پښه وړاندې

شي او دا دُعا وویل شي اَللهُمَّ افْتَحْ لِی اَبْوَابِ رَحْمَتیکَ ((ای

الله ! زما پر مخ دخپل رحمت دروازی پرانیزه )) .

۲- د جومات له ننوتلو تر کیناستو مخکې دوه رکعته تحیة

المسجد لمونځ کول پکار دي ،درسول الله ص ارشاد مبارک

دی ( په تاسې کې چې څوک جومات ته ولاړشي ترڅوېې

چې دوه رکعته لمونځ نه وی کړی تر هغې دې نه کښېني )

بخاری او مسلم ) .

۳- دجومات نه د وتلو په وخت کې به اول چپه پښه وړاندې

کوئ او دا دُعا به وایی اَللهُمَّ اِنِّی اَسْئَلُکَ مِنْ فَضْلِکَ

(( ای الله ! زه له تانه ستا دفضل اوکرم غوښتونکی یم )) .

۴- په جومات کې دزیات نقش او نګار کوښښ کول نه دي

پکار.

۵- جومات ته په داسې حال کې تلل چې اوږه،پیاز،تنباکو او

نور بد بویه شی یې خوړلی وي تلل مکروه دي لومړی دې

خپله خوله وویځي بیا دې مسجد ته داخل شي .

۶- په جومات کې خبرې کول ،شورماشوکول او اخستل او

خرڅول مکروه دي له بدمرغه د افغانستان په ډیرو برخو کې

چې ژمی شي او خلک وزګار شي نو بیا په جومات کې خپل

بنډارونه کوي .

رسول الله ص فرمایې : څوک چې په جومات کې خبرې کول

پیل کړي ،نو ملائکې په لومړی ځل ورته وایي (أُسْکُتْ یَاوَلِیَ

الله ) یعنی ای د الله دوسته ! چوپ شه ،که بیا خبرو ته دوام

ورکړي ،نو ملائکې ورته وایي (أُسْکُتْ یَابَغِيْ ْضَ الله )

چوپ شه ای د الله دوښمنه ! که بیا هم چوپ نشي نو په دریم

ځل ملائکې ورته وايي (أُسْکُتْ لَعْنَتُ الله عَلَيْکَ ) يعنی چپ

شه د الله ج لعنت وي پرتا .

همدارنګه په مشکوة شريف کې د شعب الايمان په حواله يو

روايت راغلی چې جناب رسول الله ص فرمايې : په آخيره

زمانه به داسې خلک پيداشي چې جومات ته به راځي ،هلته

به ډلې ډلې کښيني او دنياوي خبرې به کوي تاسې له داسې

خلکو سره مه کښينئ ،ځکه چې الله تعالی ته په جومات کې

د داسې خلکو ضرورت نشته (عمدة الاحکام ص ۷۵ ) .

ابن همام رح وايي په جومات کې دنياوی خبرې نيکی داسې

له منځه وړي لکه وچ بوټي چې اور خوري (فتح القدير) .

٧- په جومات کې په اوچت آواز لمونځ کول نه دی ښکار

ځکه چې د نورو دلمونځ د اخلال سبب ګرځي او د نورو په

لمانځه کې اخلال ګناه ده .

٨- د جومات دوازه تړل نه دي ښکار که د سامان د غلا خطر

وي نو په هغه وخت کې يې تړلی شي چې د لمانځه وخت نه

وي .

٩- جومات ته د جنوب ،نفاس او حائض واله ننوتل ګناه ده .

۱۰- په جمات کې لاره جوړل ناجایز دي که سخت ضرورت

وي نو باک نلري .

۱۱- په جومات کې چې کوم ځای خالي وي هلته کیناستل په

کار دي د خلکو په اږو تیریدل ګناه ده .

۱۲- په پښو پوری که څه ختې نیښتې مخکې له ننولو جومات

هغه وویځي .

۱۳- په جومات کې د ننه آذان ویل مکروه دي .

۱۴- جومات ته د داسې ماشومانوبول چې د متیازو حال نشي ویلای یا داسی بې عقل او لیونی چې په پاکی او ناپاکی نه پوکيږي ننول پکار نه دي .

داسې ماشومان چې د لمانځه سن ته نه وي رسیدلی د لمونځ کونکو د آزار سبب ګرځي .

او هغه چې جومات تلل مشروع وي د جومات اهل باید پر هغوی سخت ګیري ونه کړي (ابن عثیمین )

اسلامې فقه ،فتاوی اسلامیة ،عمدة الاحکام فقه محمد یوسف اصلاحي ،فتاوي المحودي حنفي

## نفلی لمونځونه

غیر مصنف أغسطس 29th, 2009

د استخاری لمونځ :

که سړی د کوم کار اراده وکړي او دهغه په شروع کې د

شک او تردید په حال کې وي یعنی نه پوهیږي چه پدې کار

کې به زما خیر وي او که شر نو پداسې وخت کې مسلمان ته

پکار ده چه د الله تعالی څخه مشوره او صلاح وغواړی چه

هغه د استخاری لمونځ او دوعا ده .

په حدیث شریف کې ددی ډیر ترغیب راغلی دی او نبی کریم

صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چه د الله تعالی څخه صلاح

او مشوره نه طلبول او استخاره نه کول د بدبختی او کم

نصبۍ خبره ده که چیری څوک واده کوي او یا د سفر اراده

لري نو استخاره دې وکړي ان شآء الله چه نتجه به یې ښه وي

.

درسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : د استخاری کوونکی کله هم نه نامراده کیږي او مشوره کوونکی کله هم نه پښیمانه کیږي او له اقتصاد او کفایت څخه کار اخیستونکی کله هم نه اړ کیږي .

د استخاری د لمانځه طریقه داده چه اول به دوه رکعته نفل لمونځ وکړي او د لمانځ نه ورسته به په اخلاص او ښه نیت دا دعا ووائي .

**اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعلْمِكَ، وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسَأَلكُ مِنْ فَضْلِكَ العَظِيمِ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلا أَقْدِرُ، وَتَعلَمُ وَلا أَعلَمُ، وَأَنتَ عَلاَّمُ الغُيُوبِ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنتَ تَعلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمرَ خَيْرٌ لي في**

**دِينِي وَمَعِيشَتِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَيَسِّرهُ لِي، ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، وَإِنْ كُنتَ تَعلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعِيشَتِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي، أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفنِي عَنهُ وَاقْدُرْ لِيَ الخَيرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرضِنِي بِهِ. (بخاري ،مسلم او ابن ماجه ).**

کله چه په مخکني دعا کې هَذَا الأَمْرَ ته ورسيږي کوم کار چه قصد او اراده يې لری هغه به په زړه کې را وګرځوي .

بيا به په اداسه مخ پر قبله بيده شي .

ځنو صالح او ښو خلکو ويلي چه که په خوب کې سپين او شنه شی ووينی ښه به وي او که تور او سره شی ووينی بد به وي او که هيڅ خوب ونه وينی نو بيا به د زړه ارادی ته

ګوري چه زړه يې پر هره لاره مايل وي همغه لاره به غوره کړي .

## دحاجت لمونځ :

که سړی له داسې کار سره مخ شي چه د منډو ترړو او د اسباب کارولو باوجود نه پوره کيږی يا يې پوره کول سخت وي نو په ښه شان به اودس وکړي دوه رکعاته لمونځ د قضای حاجت په نيت سره وکړی ورسته به دخدای ج حمد او ثنا او درود شريف ووائي او دا دعا دې ووائي :

**لا إِلَـهَ إِلاَّ اللهُ الحَلِيمُ الكَرِيمُ، سُبحَانَ رَبِّ العَرشِ العَظيمِ الحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالمِينِ، أَسأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحمَتِكَ وَعَزَ ائمَ مَغفِرَتِكَ وَالغَنيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ، وَالسَّلامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ، لا تَدَعْ لي ذَنباً إِلاَّ**

**غَفَرْتَهْ وَلا هَمَّاً إِلاَّ فَرَّجْتَهْ، وَلا حَاجةً هِيَ لَكَ رِضاً إِلاَّ قَضَيتَهَا يَا أَرحَمَ الرَّاحمينَ".**

## د تسبيح لمونځ :

ددی لمونځ کول لوی فضيلت لري ددی لمونځ په کولو سره د انسان ورسته اومخکی ټول ګناهونه الله تعالی ور معاف کوي دا لمونځ م

حمد رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل تره عباس رضی الله عنه ته ښودلی وو او ورته فرمايلی ئی وه چه که ئی کولای شی نو دا لمونځ هره ورځ کوه که هره ورځ نه وي هره جمعه ئی کوه او که ئی هره جمعه نه شی کولای نو په کال کې ئی يو وار کوه که په کال کې ئی يو وار هم نشی کولای نوپه ټول عمر کې ئی يو وارې ضرور او خامخا کوه .

ددی لمانځه څلور رکعتونه دي د نور لمونځونو پشان دی

يواځی تسبحات پکې ذيات شوی چه په همدې وجه د تسبيح

لمونځ بلل کيږي د کولو طريقه په لاندې ډول ده .

دغه تسبحات به په لاندی ترتيب سره ويل کيږي :

**سُبْحَانَ اللهِ وَ الْحَمْدُ للهِ وَ لآَ اِ لـهَ اِ لاَّ اللهُ وَ اللهُ اَكْبَرُ**

چه نيت وتړي تر ثنآء يعنی سبحنک اللهمٌّ ورسته دا تسبحات

پنځلس ۱۵ واره وائی بيا تر اغوذ بالله ،بسم الله ،الحمدالله او

سورة وروسته لس ۱۰ واره بيا په رکوع کې تر سبحان ربی

العظيم وروسته لس ۱۰ واره بيا د رکوع نه ورسته په قومه

کې لس ۱۰ ځله بيا په اوله سجده کې تر سبحان ربی الاعلی

ويلو وروسته لس ۱۰ واره بيا په جلسه کې (د دواړو سجدو

تر منځ کيناستل ) لس ۱۰ ځله بيا په دوهمه سجده کې هم لس

۱۰ ځله وا ئې چه دا تسبح به په یوه رکعت کې پنځه اویا ۷۵ ځله کیږي ددی څخه ورسته به دوهم رکعت ته پورته شي د الحمدلله څخه مخکې به پنځلس ۱۵ ځله دا کلمی ووا ئې ،همدارنګه په پاتی رکعتونو کې په همدی ډول لوستل کیږي چه په څلورو رکعتونو کې دغه کلمی دری سوه ۳۰۰ واره کیږي .

دغه لمونځ بغیر له مکروهه وخت ( لمر راختل ، لمر پریوتل او غرمه ) څخه بغیر نور پر هر وخت کې کیږي.

**د تهجد لمونځ :**

د تهجد منعی ده خوب ماتول اوپاڅیدل .

دفرضي لمانځه وروســـــــــــــته ترټولو غوره لمونځ دشپې [ دتهجد] لمونځ دی .

په حدیث شریف کې راغلی دي چې دآخری شپې دوه رکعته لمونځ دټولی دنیا نه بهتر دی که څیری ماته د امت دمشقت او تکلیف ویره نه وی نو په امت به می فرض کړی وی.

**( دشپې په ورستی برخه کې الله ج د ځمکی اسمان ته نزول فرمايې او وايی شته څوک ماته فریاد او آواز کونکی چې ماته آواز وکړی او زه يې فریاد واروم ،له مانه وغواړی او زه يې ورکړم ،له مانه د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړی او زه ورته بخښنه وکړم (بخاری )**

حضرت ابوامامه رضی الله تعالی عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : تاسو ته ښايې چې په شپه کې خپل رب ته ودریږئ ځکه چې ستاسو نه د وړاندې تیرو شویو نیکو وګړو هم عادت همدا و، دا ستاسو

رب ته تاسو نيږدې کوي ، ګناهونه مو له منځه وړي او ځنی

مو تری ساتی ( ترمذی )

دتهجد د لمانځه وخت د ماسخوتن له لمانځه ورسته تر

رښتينی سبا پورې کيږی خو غوره وخت يې د شپې آخره

حصه ده .

د تهجدو دلمونځ ترټولو کم مقدار ۲ متوسط يې۴ او زيات يې

۸ يا ۱۲ رکعتونه دی .

**تحية الوضو او تحية المسجد :**

د اودس کولو ورسته چې فوراً دوه رکعته نفل لمونځ کوي

چې ډير ثواب لری دغه نفلو لمونځ ته تحية الوضو وايې په

حديث شريف کې ددی ډير فضيلت راغلی دي .

همدارنګه جومات (مسجد) ته د داخليدو سره سم دوه رکعته

نفلو کولو کې ډير ثواب دی دغه لمونځ ته تحية المسجد وايي

.

**صلوة الضحی (د څاښت لمونځ ) :**

کله چې لمر ښه راوخيږي او رڼا ښه خپره شي نو د څاښت د

لمانځ وخت شروع کيږي او له زوال نه مخکې پورې دوام

لری دغه لمونځ څلور رکعته دی نبی ص به ددی لمانځه ډير

اهتمام کاوه .

صلوة الاوابين : صلوة الاوابين له ماښام لمانځه ورسته ادا

کيږي رسول الله ددی لمانځه ډير فضيلت بيان کړی دی او د

کولو ترغيب يې کړی دی دا لمونځ له تهجد لمونځ څخه

دوهمه درجه فضيلت لری .

د اوابین لمونځ دوه دوه رکعته ټول شپږ رکعته کول پکار دی

.

## صلوة توبه :

له هر انسان څخه ګناه کیږي کله چې له بنده څخه کومه ګناه

وشی نوپه پښیمانتیا سره د خدای ج په وړاندې دعاجزی او

خپلی ګناه د بخښنی غوښتلو لپاره دوه رکعته نفل کول

مستحب دی .

## د کسوف لمونځ :

کسوف لمونځ د لمر توریدو په وخت دوه رکعته لمونځ په

جمع سره کیږي په دواړو رکعتو کې اوږده اوږده سورتونه

لکه بقره او ال عمران ویل پکار دی رکوع او سجده کې هم

ډیر وخت تیرول پکار دی .

د کسوف د لمانځه لپاره آذان او اقامت نشته او د خلکو د جمع

کول لپاره اعلان روا دی .

## د خسوف لمونځ :

د سپوږمۍ توریدلو په وخت کې چې دوه رکعته لمونځ کیږي

دې لمونځ ته د خسوف لمونځ وایی دغه لمونځ هم دوه رکعته

سنت لمونځ دی چې بې له جومات او بله جمعی په ځانله

ځانله ډول ادا کیږي

## لمر او سپوږمۍ ولی توریږي ؟

لمر او سپوږمۍ د الله د قدرت نښه ده اسلامې شریعت پدی

کې بحث نه کوي بس دا د الله تعالی د قدرت نښه ده

داچې خلک دا څه آفت یا مصیبت دی یا لمر او سپوږمې ته

تکلیف رسی بې ځایه خبره ده .

دا د قیامت یاد دی

دا دنیا چې ښنګه روانه ده نو هسی به وي که څه خلل پکې راشی نو قیامت به قایم شي .

## د استقاء لمونځ :

د استقاء معنی ده اوبه غوښتل یعنی کله چې د ابو ضرورت شي او باران نه کيږي د باران غوښتلو لپاره دوه رکعته لمونځ کيږي او دخدای ج نه د ابو غوښتلو سوال کول سنت دی .

دغه لمونځ په یوه بیدیا ، میدان یا عیدګاه کې کيږي په جمع سره کيږي د لمانځه نه پس به امام یا د مسلمانانو حاکم د جمعی او اخترونو په ډول دوی خطبی وایې او په پوره

عاجزی اوچت آواز به دعا کوي لومړی به د خپلو گناهونو د

بخښنی لپاره دعا کوي بیا د باران غوښتلو دعا کوي .

## دتلاوت سجده

غير مصنف سبتمبر 200912 th,

دتلاوت سجده

دتلاوت معنی ده لوستل دقرآنکریم په ځنو آیتونو په اوریدلو

او لوستلو چې د تلاوت سجده واجبیږي دغه ته سجده تلاوت

وایی .

**حکم:**

د سجدی د آیت په اوریدلو او لوستلو دواړه سجده تلاوت

واجبیږي .

په قرآنکریم کې ټول څوارلس مقامونه دي چې په اوریدلو او

لوستلو يې د تلاوت سجده واجبيږي دغه مقامونه په قرآنکریم

په نښنه شوی دی .

**د سجده تلاوت وخت اوطريقه :** که په لمانځه کې د سجدی

کوم آیت ولوستل شي نو فوراً به الله اکبر ووايې سجده به

وکړی الله اکبر به ووايې قیام ته به لاړ شي په کوم ځای کې

يې چه قرأيت پريښی وي له همغه ځای نه به يې شروع کړی

.که امام وي نو ټول مقديان به ورسره يو ځای سجده کوي

او که د لمانځه نه بهر تلاوت کوي دسجدی آیت ولولی بهتره

خو داده چې فوراً سجده تلاوت وکړي خو که له ختم ځخه

ورسته وشي هم صحی ده ،که په ناستی سره د تلاوت سجده

وشی هم روا ده

که پر یو ځل ټول ختم وشي بیا ټولی سجدی یو ځل وشی هم

روا دي .

طریقه یې داده : بې دلاسونو پورته کولو الله اکبر ویل سجدې

ته تلل دری ځله سبحان ربی الاعلی ویل ورسته الله اکبر ویل

او پورته کیدل نه پکې قعده شته او د سلام ګرځول .

سجده تلاوت بدون له مکروهه وختونو نور هر وخت کول يې

روا دي .

**د سجده تلاوت شرط :**

د لمانځه لپاره چې کوم شرطونه دي همغه شرطونه د تلاوت

سجدی لپاره هم دي په هغه څه چې لمونځ فاسديږي په هغه

سجده تلاوت هم فاسديږي .

**مسائل :**

۱- که د سجدی تلاوت يو آيت په واروار په ناستی ناستی يا

ولاړه يا تلو راتلو لکه حافظان ولوستل شي يوازی يوه سجده

واجبيږي خو كه ځاى او وخت بدل شي بيا بله بله سجده كول

واجب دي .

۲- كه مقتدى د سجدى آيت ولولى په هغه باندې نه واجبيږي

په زړه كې ويلو او ليكلو باندې سجده نه واجبيږي .

۳- د سجدى له مقام څخه مخكې او ورسته ويل او دسجدى

آيت پريښول مكروه دى .

۴- په خفيه لمانځه كې داسې سورت لوستل ندې پكار چې په

هغه كې د تلاوت سجده وي او هم د جُمعى او اخترونو په

غټو جماعت كې لوستل په كار نه دي ځكه چې د ځنو

مقتديانو د لمانځه د خلل سبب ګرځی (علم فقه ج ۲ ص ۱۸۱

.)

## دجنازی احکام ( د مړی غسل ، کفن د جنازی لمونځ ،قبر او نور )

غير مصنف أغسطس 18th, 2009

بسم الله الرحمن الرحيم

دجنازی احکام

دالله ج کوم بنده چه ددې دنيا نه رخصت واخلې او دمرګ په لار باندې دآخرت د کور طرف
ته ځی نو اسلامی شريعت دده په عزت او درناوی سره د رخصت کولو يوه خاص طريقه
مقرره کړی ده چه په نهايې عزت او اکرام سره به د مسلمانانو د ډلې له خوا بدرګه کيږی .
هغه په ښه شان سره پاکوي (غسل به ورکوي ) په پاک سپين رخت کې به يې تاووي
بيا د مسلمانانو ديوټولی لخوا به په ګډه دعا ورته کيږي
(دجنازی لمونځ ) بيا هغه په پوره عزت سره خاورو ته سپاری .

مسلمانانو لپاره دا دفخر ځای دی چه مړی د اسلامی شریعت
مطابق خاورو ته وسپارل
شي ځکه چه دا مړی به له ورایه د محمدرسول الله ص امتی
ښکاری .
ځنکندن :
هرکله چه دمرګ علامې ښکاره شي ،نودهغه سره کناستل
اودقرآن لوستل پکار دي که
سورة **یس** تلاوت شي ښه به وي رسول الله ص فرمائی : تاسی
خپلو مړکیدو واله ته
یاسین وائی (احمد،ابؤداود ابن ماجه ).
همدارنګه دځنکدن پر وخت کې مړکیدونکی ته د کلمه لااله
الا الله تلقین کوئ . (مسلم )
چه هغه یې واروی اوخپله یې هم ووایي او خاتمه په خیر شي
،که خپله کلمه وایې نو
بیا به ناست کسان د کلمې تلقین نه ورکوی چه زړه یې
ورڅخه تورنه شي دغه آخر وخت
کې انکار ونه کړی ځکه چه دا سخت وخت وي .
دغه وخت کې ناستو کسانو لره پکار ده چه مړ کیدونکې ته د
خیر دوعا وی وکړی رسول
الله ص فرمایي : دغه وخت چه څوک دُعا کوي نو دهغه په
دُعا فریښتی آمین وایي .
هرکله چه د مړ کیدونکې ساه ووځی دهغه اندامړنه به سم
کړي سترګې به یې بندی

کړي ،زنه به یې وروتړي تر څو خوله یې خلاصه پاتې نشي
د پښنو غټې ګوتې به یې سره
بندي او پښې به یې سیده کړي .
ناپاک سړي او حیض او نفاس واله ښځه به مړي ته نیږدي نه
ورځې .
غسل :

دغسل ورکولو حق لومړی دهغه کس دي چه مړي وصیت

ورته کړی وي بیا د پلارګنې

څپلوان او بیا مړي ته نږیدې خپلوان ،سړي به سړیو ته غسل

ورکوي او ښځې به ښځی

ته غسل ورکوي یودبل مخالف جنس ته غسل ورکول حرام

دي ،ښځه او مېړه یوبل ته

غسل ورکولای شي اوهمدارنګه مور خپل ماشوم اولاد ته چه

تر اوه کلنې کم وي غسل

ورکولاي شي ځکه چه هغوی دعورت په پټولو ندي مکلف

شوي .

دغسل ورکولوطریقه :

لومړي به مړی په یوه تخته څملوي اوجامې به ترینه وباسی
لنګ به ور ووهی بیا به
استجاء ورکړي داسې چه تر لاسه یوه ټوټه تاوکړي اوبیا
دلنګ نه لاس د ننه کړي د غټواو
وړو متیازو ځایونه به وونځی دمړي شرمګاه ته به نظر نه
کوي .
که بریتونه ،نوکان او دتخرګ ویښتان یې لوی وي هغه به
لری کړی خودشرمګاه په
ویښتان به کار نه لري ځکه چه په ژوندون کې د هغه د
شرمګاه لمس جایز نه ؤ .
بیا به اودس ورکړي په اوداسه کې په خوله اوپوزه کې اوبه
نه اچول کیږي پریوه ټوټه به دغوړونو اوپوزی سوري
اوغاښونه پاک کړي ورسته به دغوړونو،پزی اوخوله کې
مالوچ کیږدي چه اوبه ورنه شي .

که دکوم سړي په باره کې ستاسو یقین وي چه دا دناپاکی په حالت کې وفات شوی یا ښځه دحیض اونفاس په حالت کې وفاته شوی ده نو دهغه په خوله اوپوزه کې لږلږ اوبه رسول پکار دي.
داودس نه پس یې سر اوږیره په صابون ، شامپو یا بل څیز ښه پاک کړئ بیا یې لومړی په ګین اړخ څملوي په ښی طرف یې دری ځله له سرنه تر پښو اوبه واچوي او نرم نرم یې بدن وموښئ ،بیا په همدي شان کیڼ طرف دري ځلې اوبه اچول .
ورسته مړي په قراره د ځان طرف ته راپورته کړي اوپه کراره به یې په خیټه لږ فشار وروړی چه که په نس کې یې څه پاتی وي هغه ورڅخه ووځی ورسته به هغه پریمنځی دوهم ځل غسل ته ضرورت نشته .

اوس نو غسل وشو لنګ به تري لرى کړى بل لنګ به ور

واچوى له هغه ځاى ښخه به يې بل ځاى ته پورته کړي بدن

به يې وچ کړى کفن به ورواچوي .

دمړي ښخه د زوراتوايستل پکاردي ځکه چه هغه خرابيږي

که دطلا يا بل شى قيمتي غاښونه وي که يې ايستل اسانه وي

او په ژوند ميت په عادى شکل ايسل نوښه اوکه ايستل يې

سخت وي يا د مړى چهري ته نقصان رسوي نو بيا به يې

پريږدي .

## کفن

غير مصنف أغسطس 200920 th,

کفن :

دسړو لپاره درى جامې کفن دى ،يوځادر،دوهم لنګ (پرتوګ

) اودريم قميص چه دځادر اوږدوالى د بنې آدم دقد نه يولاس

قدر ذيات وي اوپلنوالى يې دومره چه ټول بدن پکې ونغښتى

شي .

همداشان دلنګ پلنوالی به دڅادر په اندازه وي او اوږدوالی به يې د څادر نه يوه لويشت کم وي اودقميص پلنوالی هم د لنګ اوڅادر په اندازه دی خو اوږدوالی يې دچټ نه د دواړو شرمګاهو پورې وي .

دقميص ټوټه به دسر طرف نه دومره وشلوي چه سر پکې لاړشي چه په همدی وجه قميص ورته وايي .

دنر دکفن لپاره تقريباً 12 کزه رخت ته ضرورت دي .

دښځو په کفن کې د دريو جامونه علاوه دوی جامې نوری هم پکار دي چه يوسربند او بل سينه بند وي.

دسينه بند پلنوالی دڅادر يا لنګ په اندازه وي مګو اوږدوالی يې له تخرګ څخه ترزنګون پوری وي.

اوسربند ديوه کز نه ځه کم پلن او دکز نه ځه ذيات اوږد پکار دی .

دغسل له پردي سره دښځی دکفن لپاره تقريباً 21 کزه رخت ته ضرورت دی .

دسړی په دوو جامو اوښځه په دریو جامو کې خښول هم جائزدي خوترډې کم بغیر له مجبوری نه جواز نلري.

دکفن ورکولو طریقه :

اول به په پاکه تخته یا پاک پوزی باندی دکفن چادر هوارکړي دهغه له پاسه به لنګ وغوړوي اود هغی دپاسه دقمیص نیمه حصه وغوړوي اونیمه به ونغاړي دسر طرف ته یې د کیږدي .

ورسته به مړی له تختی راپورته کړي دکفن دپاسه به یې کیږدی ،ورسته به دقمیص نغښتی حصه کې سر ور ننباسی اوتر شرمګاه پوری به یې خوره کړی .

دغه شان به څادر هم ونغاړی اودڅادر دواړه سرونه به په تړنه وتړی چه نه ښوري .

دښځوپه کفن کې دقمیص اغوستلونه پس دهغې دسر ویښتان دوه ځایه کړی اوپه سینه دې ورته خواره کړي ،بیا دې سربند ددی دپاسه واچوي.

دهغه نه پس د سینه بند ونغاړی .

په کفن اودمړی دسجدی په ځایونو ،دلاسونو په ورغوی

کونډی او پښو کافور یا عطر یا بل کوم ډول خوشبو ووهي .

دکفن اوقبر مصارف دمړي له پاتی مال څخه اداکیږي که له

مړي څخه څه شی نوي پاتې بیا پر هغه چا لازم دي چا یې

چه دنفقی مسئولیت په غاړه لرلو .

اوکه یې کوم چا ته دکفن اوغسل وصیت کړي وي بیا به یې

هغه کس اداکوي.

## دجنازی دلمانځه حکم :

دجنازی لمونځ فرض کفایی دی .

که دیوه کلې ځنی کسان جنازی ته ورشی نو دپاتې کسانو

غاړه به هم خلاصه وي.

اوکه دکلی څخه یو هم ورنشي نو ټول به ګهنکار شي.

## دجنازی دلمانځه شرطونه :

دجنازی دلمانځه دوه قسمه شرطونه دي یو هغه دی چه په لمونځ کونکی پوری اړه لري اودوهم هغه دي چه په مړی پوری اړه لري.

۱- دلمانځ کونکی لپاره هغه ټول شرطونه موجود کیدل پکار دی کوم چه دعامو لمونځو نو لپاره ضروری وي ،مګر په دؤ شیانو کې فرق دی .

لومړی که د جنازی د لمانځه د تلو ویره وي نو تیمم به وهی حال داچې د عامو لمونځونو لپاره پداسې حالت کې تیمم نشته ، دوهم په نورو لمونځو کې رکوع او سجده وي د جنازی په لمونځ کې رکوع او سجده نشته .

۲- کوم شرطونه چه دمړی سره تعلق لری هغه دادی : ۱- مړی به مسلمان وي ۲- دمړی پاکوالی (غسل ) ۳- د کفن

پاکوالی ۴- دمړی د ستر پټوالی ۵- د مړی د جنازی

موجودیت

دجنازی د لمانځه د ادا کولو طریقه :

ټولونه مخکې به صفونه برابر کړی یوصف ، دری صفه

،پنځه یا اوه صفونه غوره داده چه طاق وي .

دمړی جنازه به د صفونو مخی ته کښیږدی که نر وي امام به

د مړی د سر طرف ته او که ښځه وي د جنازی د وسط په

مقابل کې ودریږي (قوله: صَلَّيْتُ خَلْفَ النَّبِيِّ صلى الله عليه

وسلم وَصَلَّى عَلَى أُمِّ كَعْبٍ مَاتَتْ وَهِيَ نُفَسَاءُ فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ

صلى الله عليه وسلم لِلصَّلاَةِ عَلَيْهَا وَسَطَهَا». (طبراني ).

بیا به امام او مقتدیان دجنازي د لمانځه نیت وکړی .

بیابه الله اکبر ووايي لاسونه د دواړو غوږو د نرمیو په اندازه

پورته کړي لکه د نورو لمونځونو په څیر لاسونه به وتړی او

ثنا **سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ** ............ به وايي .

له ثنا ویلو ورسته به امام په زوره او مقتدیان په ورو لاسونه

به نه پورته کوي الله اکبر ووايې بیا درود شریف اللهم صل

او اللهم بارک ووائی بیا به دریم تکبیر الله اکبر ووایی دمړی

دعا به ووايې دبالغ نرینه او ښځی دجنازی دوعا

**اَللَّهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا، وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا، وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا**

**اَللَّهُمَّ مَنْ أَحْيَيتَهُ مِنَا فَأَحْيِهِ عَلىَ الإسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلىَ الإيمَانِ**

(( ای الله ! زمونږ ژوندیو،زمونږ مړیواوهغه خلک ته چې

حاضر دی اوهغه چې غالب دی ،زمونږ کوچنیان،زمونږ

لویانو زمونږ ښځو ته بخښنه وکړی ، ای الله ! په مونږ کې

چې چاته ژوند ورکړی نو په اسلام سره یې ژوندی وساتی

اوچاته چې له مونږ نه مرګ ورکړی نوله ایمانه سره مرګ

ورکړی )).

که نابالغه ماشوم وي دا دوعا لوستل کیږي :

**اَللَّهُمَّ اِجْعَلْهُ لَنَا فَرْطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا اَجْراً وَّ ذُخْراً وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعاً وَّ مُشَفَّعًا.**

ای الله ! دغه کوچنی زمونږ دنجات اوخلاصون دپاره مخکې

جوړ کړی او دغه زمونږ دپاره د شفاعت ذریعه او سبب

جوړ کړی او زمونږ د پاره یې اجر او ذخیره کړی )).

دنابلغه ماشومې نجلې لپاره دا دعا لوستل کيږي :

**اَللّٰهُمَّ اِجْعَلْهُ لَنَا فَرْطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا اَجْراً وَّ ذُخْراً وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعَةً وَّ مُشَفَّعَه.**

بيا به څلورم تکبير الله اکبر ووايی سلام به وګرځوی .

چه پدی سره دجنازي په لمونځ کې څلور تکبيرونه شو په لومړی تکبير نه ورسته ثنا ويل دوهم تکبير سره درور ويل دريم تکبير سره مړی ته دعا ويل او په څلورم تکبير سره دواړو خواوو ته سلام ګرځول .

لاسونه يواځی په لومړی تکبير کې پورته کيږي په نورو تکبيرونو کی لاسونه نه پورته کيږي .

[قبر او خاورو ته سپارل]

غير مصنف أغسطس th, 200920

## دجنازی وړل :

دجنازی دپورته کولو طریقه داده چه اول د کټ یا چهارپایې دمخ راسته پایه پر خپله راسته اوږه کښیږدی اولس قدمه ولاړشي ددی څخه ورسته دشا راسته پایه په راسته اوږه کیږدی لس قدمه ولاړشي ددی څخه ورسته دمخ طرف چپه پایه بیا دشاطرف چپه پایه په چپه اوږه کیږدی لس لس قدمه به ځی چه جمع څلویښت قدمه کیږي (درمختار ).

دجنازی تیز وړل پکاردی داسې تیز هم نه چه مړی وښوری

دجنازی سره د ښځو تلل مکروه تحریمی دي .

دجنازی مخکې د کومی سولۍ تلل مکروه دي .

## قبر اودجنازي خښول :

دقبر اوږدوالې دمړی د قد په اندازه وي ژوروالی (عمق ) یې دانسان دقامت تیټ یاسینی په اندازه دی تر هغه ذیات بهتره دی او عرض یې د طول یا اوږدوالی نیمایې وي .

بغل ګور (لحد) بهتره دي خوکه زمکه خامه وي نو بیا سیده (شق ) قبر هم صحی دی .

په قبر کې چه کله مړی ږدی داسې به وايې بِسمِ اللهِ على ملة رسول الله ورسته به مړی پر ښی اړخ قبلې ته مخامخ څملوي .

دمړی په قبر کې تر ايښودو ورسته په لاسو کې خاوری واخلی دری ځله به يې په قبر باندی واچوي په لومړی ځل به وايی مِنْهَاخَلَقْنٰكُمْ او دوهم ځل وايې وَفِيْهَانُعِيْدُكُمْ او دريم ځل وايې وَمِنْهَانُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخری يعنی الله تعالی فرمايی چه ما تاسی ددی خاوری نه پيداکړي ئی اوبيا مو ديته بيرته واپس کوو او ددينه مو دوباره دقيامت په ورځ راباسو.

مړی له تابوت سره خښول جواز نلری (المقرب لأحكام الجنائز ).

دمړی د سر او پښونه بغير نوري د سينی او پښو دكفن غوټی خلاصول پكار دي (المقرب لأحكام الجنائز ).

قبر ماهی پوشت شکله جوړيږی چه لوړوالې به يې تر يوه لويشت لوړ نه وي .

دښځی قبر ته انتقال په وخت کې پرده ضروری ده .

په قبر ابه شيندل مستحب دي .

**لا تجلسوا على القبور ولا تصلوا إليها**(مسلم ).

دقبرونو د پاسه مه کښينئ او د د هغوی طرف ته مخامخ لمونځ مه کوی .

**نهى رسول الله ص أن يجصص القبر وأن يُقعد عليه وأن يُبنى عليه أو يزاد عليه أو يُكتب عليه** (ابؤداود).

رسول الله منع فرمايلی د قبرله پوخ جوړولو،په هغه باندې کښيناستل ،يډدغه شی ذياتول ،دهغه لپاره عمارت جوړول ،يا په هغه ليکل (دنوم اوتاريخ وغيره ليکل هم پدی نهی کې شامل دی ).

مګر د قبر نښه کول په ډبره يا بل شی جائز دي .

**إضافة تعليق**